# موږه دوه په دوه ملگري

شعري ټولګه

شاعــر: محمدالله شبرزی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړني

د کتاب نوم: موره دوه په دوه ملګري

شاعر: محمد الله شېرزی

د پښتی ډیزاین : شمس الله ساحل

ډیزاین او کمپوز: محمد الله شېرزی او ساحل

د چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ نېټه: ۱۳۹۳ لمریز کال

د اړیکو شمېرې: 0700788969 - 0778850860

برېښنالیک : m.ullahsherzai@gmail.com

خپرندوی: روان ادبي غورځنګ

د چاپ حقوق د لیکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالـــۍ

Present

تاته!

زړه سواندو و الدینو ته!

هغه چاته! چې مینه پېژني

او زړه کې ځالی ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپرونې ټولنې يادداښت

**د شعر په رنګينه نړۍ کې يو بل په زړه پورې ګام!!!**

روان ادبي غورځنګ ټولنه د صبريو ولسوالۍ د يعقوبيو ليسه کې په ۱۳۸۵ل رامنځته شوي . د نوموړې ټولنې د رامنځته کيدو اساسي هدف د پښتو مورنۍ ژبې غني کول، د افغاني کلتور پياوړتيا ،او د نوي نسل سالمه روزنه ده، چې د ټولنې غړي يې په ارته سينه او ورين تندي دځان مسوليت بولي. دروان ادبي غورځنګ ټولنې په لمن کې هره جمعه لسګونه تاند او نوي ټوکيدلي شاعران او ليکوالان راټوليږي، په زړه پورې شعرونه، ليکنې اوروي، او کره کتنې ته يې وړاندې کوي. روان ادبي غورځنګ په لومړي ځل د ځوانو شاعرانو ګډه شعري ټولګه ( تنکي هيلې ) چاپ او خپاره کړه،او اوس دادی د تکړه شاعر او ليکوال ښاغلي محمدالله شېرزي د شعرونو مجموعه ( موږه دوه په دوه ملګري ) د چاپ په ګاڼه سمبالوي، او د شعر مينه والو ته يې وړاندې کوي، او د ځان او سيمې لپاره يې ستر وياړ بولي. روان ادبي غورځنګ ټولنه خپلو علاقه مندانو ته ډاډ ورکوي، او د زيرۍ په ډول زياتوي، چې انشاآلله په نږدې راتلونکي کې به د شعر او نثر په برخه کې ډير نور په زړه پورې کتابونه چاپ او خپاره کړي، چې ځينې يې همدا اوس تر کار لاندې دي. په اخېر کې ددې شعري ټولګې مبارکي ټولو خوست ميشتو، د ادب مينه والو، د روان ادبي غورځنګ د ټولنې غړو او په ځانګړي ډول ښاغلي محمدالله شېرزي ته وايم.

په خورا درنه مينه

رحمت الله فائيز د روان ادبي غورځنګ مشر

۲۲/۱۲/۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موږه دوه په دوه ملګري

دا دځوان شاعراو ژورنالېست ښاغلي محمدالله شېرزي د شعرونو ټولګه ده، چې د ځوانۍ په لومړیو پسرلیو کې یې د خپل زړه براس پکې ایستلی او طبع ازمایي کړېده. ځواني د ځوانۍ وختونه اوغوښتنې عجیبې او زر بدلیدونکي وي،ځوانان چې څومره لیکلوته لیوالتیا لري،له دې بیا د هغه زر چاپ او خپرولو ته لا بیړه او تلوسه لري. خو ډیر دوستان او فرهنګي ملګري مې لیدلي دي، چې د خپلو هغو اثارو په چاپ او خپرولو پښیماني څرګندوي،چې د خپل هنري ژوند د تنکیو ځوانیو او د کار په پیل کې یې ټولنې ته وړاندې کړي وي، داځکه چې په ځوانۍ کې انسان له هره حیثه ځوان او بې تجربې وي، د عمر په تیریدو او پخیدو سره د انسان کړه وړه او پوهه هم د پوخوالي خواته ځي.

ځوان شېرزی به هم انشاالله د ځوانۍ د خپلو هنري تخلیقاتو پوخوالی او پرمختګ تجربه او رامنځته کړي، مخکې له دې، چې له دې زیات په (موږه دوه په دوه ملګري) خبري وکړو.لاژمه بولم چې د هنر ښکلا او فرهنګ په باب یو څه ووایو، چې د ځوانو لیکوالو او شاعرانو که خدای کول یو څه ورته پام شي او د خپلو تخلیقاتو ښکلا او هنریت ته متوجه واوسي. کله چې د هنراو فرهنګ مفهوم په ژبه راوړو اویا زموږ په فکر کې راګرځي،نو ورسره جوخت هرومرو د شعر او ښکلا مفاهیم هم زموږ په ذهن کې را ګرځي هنر او ښکلا یو له بل سره نه بېلیدونکې مفاهېم دي، ځینې هنر څیړونکي خو ښکلا د هنر،هنري شکل ګڼي، یعنې کله چې هنرمند خپله تخلیقي پدیده د ښکلا لوړې پوړۍ ته ورسوي د خلکوپه زړونو منګولې لګوي،عواطف او احساسات یې تراغېز لاندې راولي، او هغه پیغام چې په نوموړې پدیده کې یې هنرمند انعکاس کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، د مخاطب ذهن ته د زرینو وړانګو په ښه نفوذ کوي، او خپل قوت سره يې عکس العمل ته رابولي.هنرمند په طبیعت کې پرته ښکلا د خپلو عواطفو په ګډون سره لا برجسته کوي او د خپلې ټولنې د درك له سطحې سره يې برابروي. واقیعتونه لکه لعل له ایرو راوباسي، خلك يې په ارزښت پوهوي،او غواړي چې خلك په څه ډول او رنګ ترې ګټه واخلي. هو! هنر ښکلا ده او ښکلا هغه څه دي چې زړه يې ومني، ښکلا نسبي شی دی او خاص تعریف نه لري. خو دومره خامخا ویلی شو چې زیبایي او ښکلا د ښکلو هنرونو لومړنی شرط دی.......

شعر ددغو واقیعتونو د څرګندولو او خلکو ته د هغوی د رسولو یوه ښه وسیله ده،چې شاعر د هغې څخه په ګټې اخیستو سره په موثره توګه کولی شي خپلې هیلې او غوښتنې خپلو مخاطبانو ته ورسوي نو ځکه وایو چې: شعر ښکلی، موزون او آهنګ لرونکی کلام دی،چې هنري ارزښت ولري. کلاسیکو اشعارو به وزن او قافیه درلودل، خو اوسنی ازاد شعر که قافیه هم ونلري، خو چې مفاهیم په ښکلي انداز او اهنګ لرونکو ترکیبونو کې په مهارت سره واړول شي شعر ترې جوړیږي. ښه شعر د شاعر له ضمیر څخه سرچینه اخلي. د ښایست د پرښتو په اوښکو له مینځلو وروسته د مینې د نړۍ غیږې ته سپارل کیږي. په شعر کې اصلي تومنه سوژې او پیغامونه دي، خو ښایست او ښکلا يې خوږې کلیمې او ترکیبونه دي، لکه د یوې ښایسته ناوې پرسر چې زرین شالونه ور په سر کړل شي،نوښایست او ښکلا يې نوره هم زړه راښکونکي او بوګنونکي شي. د نوي شعر مفهوم هم همدا دی چې نوي مفاهیم په نویو ترکیباتو کې وړاندې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلاسیکو اشعارو کې هم داسې جوړښتونه شته چې لا تراوسه هم نوي دي، او په ننني اشعارو کې ډېرداسې څه ترسترګو کېږي چې له اوسه په پېل کې زاړه دي. د اوسني ازاد شعر غوره توب دادی،چې د شعر تومنه او جوهر له کلماتو او قافیو څخه نه قربانیږي. خو دا هم باید له یاده ونه باسو چې په ازاد شعر کې هم آهنګ او ترنم د توجه وړ څیز دی. او له هغې پرته شعر شعریت له لاسه ورکوي، او په زړونو منګولې نشي لګولی. شعر د طبیعت د رنګینو په پسللو او د تعزل د روح په پوکولو سره د غزل په بڼه له خوندور او ځلاند د هستۍ ډګر ته راوځي، په زړونو کې د خپلې بقا له پاره د اوسیدو هوسا ځای پیدا کوي، او تر ډېره ژوندی پاتې کیږي. او که دا ځانګړنې ترې واخیستل شي شعر د شاعر درجې ته راټیټیږي، ډیر ژر مري او پاېښت نشي کولی. له بلې خوا داهم ضروري ده، چې پیغامونه نه باید دومره د تشبیهاتو او پیچلو ترکیبونو په پوښونو او لفافو کې وپیچل شي، چې د اصلي شکل موندل ګران او ستونزمن کړي، پیغام دې واضح او څرګند وي،خو ښکلي او مناسب کالي دې هم ورواغوستل شي، چې له هره حیثه مناسب او د ورځې د موډ سره برابروي.

د یادولو وړ ده، چې په اوسني وخت کې غښتلي شاعران زیار باسي چې ازاد شعر په زیاته اندازه وکاروي، خو ددې ترڅنګ د شعر کلاسیك فورمونه زموږ په ادبیاتو کې پوره مسلط او حتی یوه ډله خلك خو ازاد شعر، شعر نه ګڼي او استدلال کوي چې شعر د وزن، قافیې او اهنګ له درلودلو پرته شعر نه دی. خو دا خبره اوس د منلو وړ نه ده، ځکه چې ازاد شعر اوس په ټوله نړۍ کې د شعر په توګه منل شویدی. د تنکي ځوان ښاغلي محمدالله شېرزي په باب هیله لرم چې ډیر ژر به دده شعرونه او ژورنالستیکې لیکنې، چې دادی تازه له پوهنتون څخه فارغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شویدی، د پوخوالي او معیاري کیدو په لور راسخ ګامونه پورته کړي، اود معیار تر ماڼۍ پورې به خپل یون ته په نه ستړي کیدونکي توګه دوام ورکړي.

د شېرزي او نورو ټولو ځوانانو د برې په هیله چې خپل هیواد او ولس د بریالي خدمت د تیارۍ په موخه ښې زده کړې وکړي، ښې ښې مفکورې او داسې ګټورې طرحې او لیکنې رامنځته کړي، چې موجوده مشکلات د پوهې او ځیرکۍ په زور حل او یوه اباده ، هوسا او بسیا ټولنه په پښو ودروي. هو! ځوانان دې دا وړتیا اوارتیا د منطق او علم په رڼا کې رامنځته او پلي کړي، ددوی د پیاوړتیا او بریا په ارزو.

په ژوره ادبي مینه

څېړنوال بسم الله حقمل د افغانستان دعلوموا کاډمۍ

علمي غړی او د ولس غږ روزنیز مرکز رئیس

۱۳۹۲/۱۱/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دشېرزي ساده او خوندوره شاعري

زه چې کله کله د ملګرو شعرونه ګورم ډېر خوند ترې اخلم په رېښتيا له خونده ډك وي ، ښه قافيه نوي رديفونه په وزن برابر له نوو فکرونو ډك خو په هرلحاظ له خونده ډك وي،يو وخت و د ګوتو په شمېر خلکو شعرونه ليکل هغه که نيم شعرونه له لغاتو هم ډك و مګرخلکو به په مينه لوستل ولې اوس شکر دی که پخوا سل شاعران وو اوس زرګونه شاعران دي بل دا چې د پخوا په څېر لغات پراني هم نشته ښه ساده روان مانا رسوونکي شعرونه شاعران ليکي،بې له شکه چې ښکلا په ساده توب کې ده او لويي په خاکسارۍ کې، هغه که په هره برخه کې وي ،په اوس شعرونو کې خو ځکه ښکلا په ځپو ده چې ساده دي ښه مانا رسوي خلك په اسانه پوهولی شي او خوند ترې اخلي چې د هغو شاعرانو له جملې يو محمد الله شېرزی هم دی ، د شېرزي شاعري په رېښتيا چې ساده او روانه ده، ځکه خو يې دشعر ښکلا هم ځپې وهي او خلك ترې زر مانا هم اخيستی شي ، ما چې د شېرزي شاعري ليدلې ډېر ورته خوښ يم او خوند مې ترې اخيستی دی لکه څنګه به مې چې له مشرانو ليکوالو شاعرانو څخه اوريدل چې شعر بايد ساده او روان وي همدغه شان شاعري شېرزي هم کړې ، ګني راځئ د ده څو ساده او خوندور بيتونه ولولو.

دزړه کـورکې مې ساتلی يو ښـاغـلی

راته خــــانـدي غلی غلی يو ښـاغلی

د نظر مرغلين تار مـې ترې چاپير دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هـرلوري مې ځارلـــې يوښاغلـې

که باران د محبت شېبې شېبې شــي

مـا د زړه په سـر کرلـې يو ښاغـلـې

شېرزي دېته ورته نور ډېر ښکلي ساده او روان شعرونه ليکلي دي ،شېرزی ډېروخت مشاعرو ته نه دی تللی ده خپله شاعري په اصطلاح پټه ساتلې وه،زما سره ډېر وخت کيږي ملګري لري خو نږدې وخت يې له شعر څخه خبرشوم، کله مې چې دده شاعري وليده ډېره مې خوښه شوه ده زيات شعرونه ازاد نظمونه او غزل ليکلي دي ،کله چې دا خدايي الهام چاته په نصيب شي نو هغه که په غر وي يا په سمه ، مشاعرو ته لاړ شي يا لاړ نه شي د بخت ببرړۍ يې روانه وي ، لکه ما چې وړاندې وويل شېرزی مشاعرو ته ډېر نه دی تللی ولې شعر يې روان ساتلی شوی دا دی بې له اخېره يې د کتاب د چاپ نيت هم وکړشېرزی دې خدای ج ژوندی لري چې لا نورې پنځونې وکړي او خوندور شعرونه يې خلك مطالعه کړي ، ددې کتاب د چاپ مبارکي ټولو لوستونکو ته وايم مرغ يې ښه.

په درنه مينه

کمال شهزاده

۵/۱۲/۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوړومه دې تصوير په سپينو ګوتو

شاعري هغه خوږه عطا ده، چې د نړۍ ستر ليکوال بولډر وايي:
(( شاعر اوسه حتی که په نثر کې هم وي.)) هو! شاعري خوږه کلمه ده، او شاعران د ټولنې خواږه خلك دي، تل خوږې، ښکلي او ښايسته خبرې کوي. که ترخې خبرې هم کوي الفاظ او کلمې ورته ښکلي او خوږې پيدا کوي، چې يو له دغو خوږو خلکو له منځه محمدالله شېرزی هم دی. شېرزی له دې سره، سره چې يو تکړه ژورنالېست دی، خوږ ژبی شاعر هم دی. شېرزی مينه ناك، تل په موسکا او شوخ طبيعته ځوان دی، زموږ د يو ملګري خبره چې (( شېرزی مو د مجلس مالګه ده .)) شېرزی صيب له ډيره وخته شعر ليکي، په شعر کې يې کاميابه خبره د ژبې سوچه والی او ساده توب دی، چې هر څوك پرې په اسانه پوهيدای شي. په شاعرۍ کې يې ځای، ځای تصويري بيتونه هم ليدل کيږي، چې يوه خوندوره نمونه يې دادی:

دنګې ځوانۍ لشې، لشې باڼو د وخوړلم
ستا قــدمونه د تنزرې ماته خوب راولي

که زيات وخت د دوو ملګرو ترمنځ په يوې وړې خبرې زړه بدی راځي، خو کله، کله داسې هم کيږي، چې د دوی ترمنځ دې بل څوك هغه د چا خبره اور کې اور لړومی وهي، او سره خوابدي کوي يې او دا خبره شېرزي صيب په څومره خوندورو الفاظو کې را نغښتي ده:

دا چــې په نه خــبره وران شو سره
رقيب په دې شر کې اکثر ولاړوي

د شېرزي صيب يو بيت راته د کابل خاطره رایاده کړه. په لومړي ځل کابل ته تللی وم، د نابلدۍ له وجې په ښار کې دومره تنګ شوی وم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نوره مې زره چاودیده، او شېرزی هم چې زما غونډې یو کلیوال ځوان دی، شاید په لومړي ځل د ښار له ګڼې ګوڼې، او د نااشنا خلکو.. په لیدلو په تنګ شوی وي، او دا حالت یې په ډېر عجیب ډول انځور کړی:

ښار ته راغلی نابلــد و کلــیوال و ســـړی
ښارته راتلو باندې پښېمان وتاته څه پته وه

داچې ځواني تل له باغیتوب او سرکشۍ سره نه شلیدونکې اړیکې لري،او ځوان همېشه سرشاره، مست او یاغي ساتي، نو زموږ شېرزی صیب هم چې ځوان دی، کله، کله دا ډول شوخي کوي، او د ځوانۍ یاغیتوب په دې ډول ښکاره کوي:

دا ګیلې، ګیلې ژوندون مې لکـه باد درسـره یوسه
نور یې نه غواړم واکداره کله یو رنګ کله بل رنګ

که لیکوال توماس مان وایي چې: ((د شعر بنسټ په دروغو ولاړ دی.)) نو حضرت جامعي^رح^ ورته په ځواب کې وايي:

در شعـــر پیچ و در فن او
که اکذب اوست احسن او

هو! د شعر دروغ د شعر ښکلا ده، او شېرزی که یوې لورې حسن پرست او ښکلا ته ګروهمن شاعر دی، نو له بل لوري یې په شعر کې د پیغام خوا هم د ستاینې وړ ده، دی په یو بیت کې وايي:

لـکـــه اوبو وړی انسـان هـر شي ته لاس اچــوي
داسې که وینې شي ضمیرونه څومره خوند به وکړي

شېرزی صیب لکه زما او نورو ځوانانو غونډې له جنګه ستړی شوی، په جنګ کې یې تاوانونه، ظلمونه او بدبختۍ لیدلې دي، په جنګ خوړلو مشرانو یې زړه دردیدلی دی، او د زړه له سوخته یې ناره کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب مې لیدلی کې رښتیا شي چرته
سـوله به راشي ورو په ورو هـــېواده

خدای دې د شېرزي صیب خوب رښتیا کړي، چې نوره مو د جنګ دغه وېروونکې کلمه له مازغو ووځي، او هېواد مو د سولې له خوږه نعمته برخمن شي. ښاغلی شېرزی کله، کله د ځینو شاعرانو څخه هم متاثره ښکاري، د یوه غزل په مقطع کې وایي:

څه په لپو، لپو بنګ شېرزي وهلي
هم نـشه دي هم خـمار دده غـــــزل

او همدا خبره کاروان صیب هم کړېده، چې نوموړی ترې څه متاثره ښکاري. کاروان صیب وایي:

غزل یې ونه وري چې عقل به دې وتمبه وي
دې لېوني کاروان په لپو، لپو بنګ خوړلي

هو! د شېرزي صیب کلام د زیاتو خوبیو ترځنګ کیدای شي، یو څه خامۍ هم ولري، په شاعرۍ کې به یو نیم ځای د قافیې او د کلمو د کارونې ستونزه ولري، خو دا چې هر نوی شی بې عیبه نه وي. له نیمګړتیاوو یې تېرېږو او په راتلونکې کې ورڅخه د نورو ښو او خوندورو ابتکاراتو تمه کوو. د کتاب مبارکي ده ، او د پښتو ژبې مینه والو ته وایم. کتاب یې د پښتو په پانګه کې زیاتونه بولم، ګران لوستونکي یې مطالعې ته رابولم، او خپله لیکنه دده په څو خوږو بیتونو پای ته رسوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

جـــوړومـه دې تصـوير پـه سـپينو ګوتو
سپينې غاړې ته ځنځير په سپينو ګوتو

په تشبه کــې مې انځــور د ځان ليدلو
په ګـــــريـــوان د يو مـــين ځـــپې اوبه

ددې جــينــۍ په تـنـدي سـپينه روپۍ
څـه پکــې مه وايه چې رنګ يې نشته

ستــا ناويــتوب زمـا د تن جـــنازه
په تـــا ګلان په مـــا وابنــه وشيندي

په مينه او درنښت
نقيب رسول کليوال
خوست پريم نګر ښوونځی
۱۳/۱۲/۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما يو څو نيمګړي کليمې

ژوند يوه ټولګه ده، چې د پاڼو په اړولو سره لوستونکو ته بېلا بېل عنوانونه وړاندې کوي،دغه عنوانونه په ډول ډول تورو پسولل شوي،او د انسان نظر پرې لويږي. دغه مضامين ځينې په ډېرو زرينو او مرمرينو کرښو کښل شوي وي،چې له ورايه ترې د خوښۍ بوی راځي او ښکلا شيندي، خو ځينې نورې پاڼې بيا خپله غېږه اندېښنو ته ورکوي، او پر خپله سينه غمګينې او بوږنونکې کرښې پربږدي، چې د انسان په معصومو سترګو د اوښکو کتارونه جوړوي او غمونه کري. شعراو شاعري هم د پورتنيو دوو حالاتو په ګرداب کې راځي، بې اثره نشي پاتې کيدای، بلکې په ډاګه وايم چې شعراو شاعري د حالاتو محصول دی. تاسو به د بېلابېلو شاعرانو د ګوتو کرښې لوستې وي، چا به تر کهکشانه بره بېولي وئ، الفت او لذت به يې درکړی وي. خو ځينو به بيا د اندېښنو ددرياب په بې رحمه څپو لاهو کړي وئ او د وتلو لار به يې درنه ورکه کړې وي. شعر او شاعري د رڼې هېنداري په څېر ده، چې شاعر کله پکې ځان ګوري، او کله د ټولنې مختلفو اړخونو ته نظر کوي، او بيا يې د تخيل په ځواك انځورونه اخلي او مينه والو سره يې شريکوي. شعر د نامات شوي آس سره تشبه کولی شو، که شاعر دغه لاره په هنر او مهارت سره طی کړه تر هدفه به رسېدلی وي، خو که يوځل ځينې لوری خطا شو، نو لرې نه ده چې ځان او ټولنه به يې د زمري په خوله کې ورکړې وي، چې ايستل به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنها اه او فریاد وي. د ترکیې هیواد وتلی شاعر ناظم حکیم وایی: ((شعرهغه خوش اوازه مرغه ته ورته دی چې باید غوږ ورته ونیول شي، او له اوازه یې خوند واخیستل شي)).

د زړه له کلي نرۍ لاره تېرېږي دواړو خواو ته یې رنګین رنګین ګلان په موسکا وي،شاعر هم په نرمو او پستو قدمونو په دغه لاره مزل کوي.په یوه او بله خوا د تخیل نظر غوړوي، ځینو ګلانوته چې په زړه یې حمله وکړي لږه موده پښه نیولی شي ویې ګوري، او شعریزې ځولۍ ته یې حواله کړي، د خپل تسکین وروسته یې خپلو نږدې ملګروته د لیدلو او بویولو بلنه ورکوي، لوستونکي ورځینې بېلا بېل برداشتونه اخلي او خپله خاموشي پرې ماتوي.

شعر په مسلکي نظر په څو بنسټېزو ستنو ولاړ دی، چې دلته یې دځینو یادونه اړینه بولو، تخیل، عاطفه، احساس، مفکوره، هنریت، آهنګ.... شاعر چې هرکله نوموړي توکي په یوه چوکاټ کې راټولوي. قافیه، ردیف ورکوي، او وزن یې تلي، نو بیا ورته د شعر کلیمه کاروي. د نړۍ مشهور عالم ارسطو وایي((شعرهغه وینا ده، چې په زړه کې هیجان پیداکوي.)) درنو لوستونکو! ډېر وخت مې خپلې لیکلې کرښې پټې ساتلي، خو کله کله به مې چې انډیوالانو ته وښودې نو ډېر به یې وهڅولم، ددوی د تشویق برکت دی، چې دغې شعري ټولګې (موږه دوه په دوه ملګري) ستاسو په مبارکو لاسونو کې ځای نیولی دی. ځانته د شاعرخطاب نشم کولی، ځکه دغه ټولګه به نن دداسې شخصیتونو په لاسونو کې وي، چې شاید په مخ کې یې د یوې عادي خبرې جرئت هم ونشم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړای، خو بیا هم د وخت حالاتو نه په الهام سره سپینې پاڼې توروو، درته د خپل زړه اهونه، د ژوند ارمانونه او هیلې، د مینې اظهار او دخپل کمکي عمر تجربې اوخاطرې د قلم په څوکه د تخیل په ځواك انځوروم، داچې شعر مختلف کلاسونه لري، نو ماهم ترخپلې نیمګړې وسې پورې په دغه ټولګه کې چې ستاسو په ګوتو کې ده، ډېری برخه یې غزلیز کاروان تشکیلوي، او ترڅنګ یې ازاد او قافیه لرونکي نظمونه ، داستانونه او څلوریزې هم پکې ځانګړی ځای لري.

خوږو لوستونکو! هیله ده دغه ټولګه مو څه ناڅه شعري اوادبي تنده ماته کړي.او د دردیدلو او جدا شوو زړونو لپه لپه دعاګانې به تر لاسه کړي. بس نو دغه لیکنه په یوه خپل بیت سره رانغاړم.

دا په نښه کې بس تاله درکومه
که په کار دې چېرې راغی زړه مې ستا دی

په ټوله تانده اوشاعرانه مینه
محمدالله شېرزی
خوست خواجه متون تپه
۲۸/ ۱۱/ ۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## منـنـه او کــورودانــی

د څښتن هزار شکر چې ماته يې څه ورتيا او زيات ملګري راکړي، ددوی هڅونه اوتشويق دی، چې نن دا جرائت کوم اود ادب په باغچه کې يو نوی ګام اخلم. په ډيرو کمو نيمګړو الفاظو د خپلو دوستانو او خواخوږو مننه او کورودانۍ ادا کوم. له ګران او هڅاند استاد ځيرنوال بسم الله حقمل صيب څخه د زړه له تله مننه ، چې د حده زياتو بوختياوو ترڅنګ يې زما دغه ټولګه له پيله ترپايه مطالعه،اصلاح او طلايي ليکنه يې پرې وکړه،دده له درنې سيورې موبې برخې مکړې. د ځوان او نوښتګر شاعر کمال شهزاده صيب نه زښته زياته مننه، چې د شعرونو د لوستنې او ليکنې حوصله يې ولرله،همداسې تاند او مستان يې لرې. د ښاغلي نقيب رسول کليوال د مينې او احسان پوروړی يم، چې زما په شعري ټولګه يې ځغلنده نظر تېر کړ، او څو خوږې کرښې يې پرې وليکلې. د روان ادبي غورځنګ له مشراو غړو خو بيخه ډيره مننه او تشکر کوم،چې د سيمې د پياړو شاعرانو په شتون کې يې زما شعرونه ددې وړ وبلل، چې چاپ اوخپاره شي او مالي لګښت يې پرخپله غاړه واخيست، د لا بريالي او نه ماتيدونکي يون په هيله يې. دخپل بيدار ملګري ضياالرحمن تنها به زياته مننه وکړم، چې زما په اړه يې يو څو کرښې وليکلې. له خواږه او مينه ناك ملګري شمس الله ساحل صيب نه نړۍ مننه چې په خپلو زرينو ګوتو يې د کتاب او پښتۍ ډيزائين وکړ، او نوښتګره ښکلا يې پرې ولوروله، ارمانونه يې پوره شه. د ښاغلي محمدعارف ځيرك دې کور ودان وي چې د کتاب په لا ښکلا کې يې راسره خپله همکاري ونه سپموله.

ستاسو د مينې پوروړی

محمدالله شېرزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نعت

چې په ټولو کې بهتر دی زما یار دی
محمد مې پیغمبر دی زمـــا یار دی

واړه عمر یې ددین په دعـــوت تېرکړ
چې معشوق درب اکبردی زما یار دی

چې په یو قدم تر عـــرشه پورې تـللی
جبرائیل چې ترې کمتر دی زما یار دی

رب ورکړې مـــعجزې وې بېلې بېلې
چې یې لاس شق القمر دی زمـا یار دی

مـــنور شو ټول جـــهان دده له رویه
راخـــتلی لکه لـــمر دی زما یار دی

خوار **شېرزی** یې له صفاتو نه عاجزدی
دهـرچا سترګو نظر دی زمـــا یار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اې وطنه

خدای دې جوړکړه دازخمونه اې وطنه
نور دې ورك شي داجنګونه اې وطنه

لا ترڅو به وي خزان پر افغانانو
دغه تل عمري غمونه اې وطنه

ستا دنګ غرونه په نښترو وو پوښلي
نن بلېږي پرې اورونه اې وطنه

راشئ راشئ دوحدت لاسونه ورکړو
چې پوره شي ارمانونه اې وطنه

نن دخپلو کړو په وجه بنديوان يو
نور به مات کړو ځنځيرونه اې وطنه

زه شېرزی دې تل ودان غوارم له ربه
په دعا لپه لاسونه اې وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علم

علـم نـوردی روښـــنايي ده د ټولـــنې
عـلم غـوره زنده ګي ده د ټولـــــنې

جهـل ګوره د تـيارو په لار مـــزل دی
عـلم څه ښکلـې هستي ده دټولـــــنې

هغـه خوار شه چې دعــلم مخه نيسي
علم هــرخـوا ابـادي ده د ټولـــــنې

مـال دولت دې وفا نه کوي ترعـــمره
علم ژونددی نېکمرغي ده د ټولـــــنې

رون مشال دی په هرځای کې پکارېږي
علم ســتره بينـايي ده د ټولـــــنې

عـــلم زده کـړه له زانګو نه ان تر قبره
اې شېرزيه چې ښادي ده د ټولـــــنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلوريزې

بهار بهار شـــيبې د ګل پر څانګو
مـــنزل ته رســـــو د رڼـا پر وړانګو
شيرزيه ځار يې شم غني يې کړمه
دې اســـتادانو دغـو لـــــويو پانګو

داسې نه ده چې غوټۍ به ګلاب نشي
داسې هم نه چې انسان به تراب نشي
له ازلـه به لتـون کـــړې تر ابـــــده
اې شـــــيرزيه زندګي بې کتاب نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلي ته!

دزړه کورکې مې ساتلی یو ښـــــاغلی
راته خــــاندي غلی غلی یو ښـــاغلی

د نظر مــرغلین تار مې ترې چاپېر دی
په هــــــرلوري مې څـــارلی یوښاغلی

که باران د مـحبت شېـبې شېـبې شي
مـا دزړه په ســر کرلی یو ښـــــاغلی

د احسان زولنې څـــوك شي ماتــولی
که یا دېو شي یا ښـــاغلی یو ښـــاغلی

ترې چـــــــاپېره مې د اوسپنې کلا ده
په یو چا مې ژوندون ښکلی یو ښاغلی

دشـېرزي نه یې زړګی منګول کې وړی
نامعلـومې خـــواته تللـی یو ښاغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ کلی

هـر وخـت به الفت کوي داکلی دې وګوري
ژونـد کــې به محنت کوي داکلی دې وګوري

بيا يـې سينې سـپرکړلې بيا ژنې راوتي دي
څـوك چـې محبـت کـوي داکلی دې وګوري

جـوړبه يې ناسـور غوندې واړه پرهرونه شي
دين بانـدې غـيرت کوي داکلی دې وګوري

مينه قـربانی باندې پايښت مومي دوام کوي
څـوك چې صـداقـت کوي داکلی دې وګوري

نه دې کـړي غـرورخلك هسې نه خطا لاړشي
ډيــر به بيـا مـنـت کـوي دا کلی دې وګوري

دې کې دشېرزي جانان ډېرې ډېرې شپې کړې
ډېر يې چې صفـت کوي داکلی دې وګوري

ګلونه رنګ په رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپوږمۍ

ستورو ژړل سپوږمۍ خپه وه ما يې مخ ته کتل
بېګاه عجيبه غوندې شپه وه ما يې مخ ته کتل

هســــې خپه وه ما بخښنه ترې غوښتله د شپې
څــه دومــره غته کيسه نه وه ما يې مخ ته کتل

په ننـواتې کـې مـې زړه او ګلاب دواړه وروړل
زمــا د جــان غـوسه سـړه وه مايې مخ ته کتل

د شپې چوپتيا يې ماتوله سپو غپـل کلي کې
هـغـه زمــا په ورون ويـده وه ما يې مخ ته کتل

بـاڼــه يـــې مـړه اننـګي سره د وېښيدلو نه وه
کـه شـپه درنه وه خو خوږه وه ما يې مخ ته کتل

شونډې يې جوړې وې ګيلې ته وارمې نه ورکاوه
زنـــه يـــې هم خوله خوله وه ما يې مخ ته کتل

ســحر نــږدې شـولـو اذان کـوي د کلـي مـلا
شـېرزيه بل شــان ننــداره وه ما يې مخ ته کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلاب

ښـومره پـه هـنر دې رانه واخيستو
يـاره د زړه سـر دې رانه واخيستو

خيـال کې بې اسـرې نه يم غني يمه
خير دی کـه نظـر دې رانه واخيستو

وا! د کلـي خـانـه دا تـه څـه کـوې
شپه دې کړه سحردې رانه واخيستو

اوس لکـه پـه دښته کـې تنها ګلاب
چـارچـاپېـر بشـر دې رانه واخيستو

ځان مې درشيندلی ماوې ټول مې کړه
لاړې پــه ډګــر دې رانـه واخيستو

ژېـړه ژېـړه ګـرځـمـه پـه کلـي کـې
رنګ مې و ګودر دې رانه واخيستو

زه خـو لاتيـاره سينګار نـه ومـه
وشېـرزيـه ژر دې رانه واخيستو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانان

همېشه مو جګې ټيټې دي ليـــدلي
همېشه مو ښېښې پخپل تبر وهـــلي
همېشه زمونږ ګذران په سرولمبوکې
همېشه مو خپلې هيلي دي وژلـــي
همېشه د خلکووړاندې په دارشوي
همېشه مو خپلې مينې دي بايللې

همېشه مو ځينې سترګې راايستلي
همېشه مـــو مـــيدانونه دي ګټلي
همېشه مو ميلمانو ته لبيك كــړی
همېشه مـــو په کالو کالو ســـاتلي
همېشه مودشنکي چـــنارنه لاندې
همېشه مـــو ربابونه ترنګـــــولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

همېشه د پاکې مينې پـلويان يو

همېشه مو پاك زړګوټي ګرځولي

همېشه مو دجنان دزړه په دښـته

همېشه مو کوچيانه کيږدۍ وهلي

همېشه مو د هېواد په پاکه مـينه

همېشه مو خپل سرونه  جنګـولي

همېشه مو دچاياد باندې شېرزيه

همېشه مـو په سلګو سلګو ژړلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل



په ورغــوي کې مې ښـکاري د چا نښه
لکه سپين مخ باندې تکـــه توره زخه

د غـــزل د ښـاپيـرۍ د خــولې نه اورم
ســندريزه مـوسيقــي د زړونــو خوښه

ځـان د ميــو په پيـــالــو نشـه کوم نه
خـمـــارونــه د يــو چـــا د ليــدو څخه

دا زړګی مې دې ناخوالو داسې خوږين کړ
کـــه چنـــــار نه رالـــويدلې ژيـړه پڼه

که ته لاړلـــې **شېرزيه** ياد دې شته دی
شــاعـــري دې په بــلا زړونـوکې ښخه

# مرغلیڼې کرښې

شاګردان په سپینو سپینو کرښې لیکي
عاشــقان د زړه په وینو کرښې لیکي

مــونږ ددواړو نظــرو تــه احتــرام کــړو
شــاعــران پــه نازنیــنــو کرښــې لیکي

دا ټــولـنــه له څو رنګــه خلکو جوړه
ځینې ځینې په اغــزینــو کرښې لیکي

چــې د خیــال لــه دایــرې وتلی نشـــي
هــغــه بیا په مــرغلینــو کرښې لیکي

پښتــونخوا د شخصیتو ډکه زانګو ده
لیــکــولان په ځینو ځینو کرښې لیکي

دا شــېرزی که څه د عمرنه کمکی دی
خــو قــلــم پــه ذره بینو کرښې لیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ګل دې وي ازغـي دې ترې چاپېره وي
خپل دې وي پردي دې ترې چاپېره وي

ژوند چې د لالـي سره په ښنګ کې وي
تل دې وي خوښي دې ترې چاپېره وي

نــه کـوم د داســې ښکلــو مینه نه
چـل دې وي بـدي دې ترې چاپېره وي

مـه کــړې د پښتــون ټـبر کمزوری خو
سل دې وي ځواني دې ترې چاپېره وي

دغــه د شـــېرزي د مــحبت څـــراغ
بل دې وي مستي دې ترې چاپېره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موږه دوه په دوه ملګري

موږه دوه په دوه ملګـــــري

ناست په خــوا کې سره غلي

لکــه باز نه ترهېدلــــي

سترګې یوبل کې ګنډلي

داسې نه لکـــه د کلــي

لکــه لـــرې نــه راغلــي

شــونډې نه خـوځـي ترلــي

دومـــره درد دواړه وهـــلــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دردونکی شـــان تصــویر دی

بند په بند دغــم ځنځیردی

د اسمان ستوري ویده دي

په شفق راغلی ویر دی

مخامـخ یوبل ته ګــورو

په ښـېرو کې مـوتغـیر دی

روښـــنایـــي ده را روانــه

دا د پــیـر بـابـا تعـــبیـر دی

ځه چې یو بل ته نظر کړو

د صحنې تمثیل د چا و

مینه ناك شو یو تر بله

نه د تا و نه زما و

څه پلان خوخامخا و

پټ پناه پردې تر شا و

ځه پرېږده چې هرڅه وشول

مهم ژوند راته د تا و

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر به هېر پام د راتلونکي
ژوند د هیلو ډك كاروان
بلا وه برکت نه و
نوربه خیال ساتو په ځان
دژوند سخته خاطره مې
په زړګي باندې پنهان
لوند په اوښکو مې سلام
د شېرزي د زړه درمان
زه له تا شمه قربان
بس ارمان ارمان ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلبڼ

ما راټول کړل ډېر ګلونه په ګلبڼ کې
د خـوږو یارانـــو زړونه په ګلبڼ کې

انځورونه مې انځورکړل انځورګرشوم
درتـــه ږدم نمـــایشـــونه په ګلبڼ کې

نازولو نور اختیار ستاسو په لاس کې
بـویـوئ ښکلـي ګلـونه په ګلبڼ کې

دا تحفـه ده هره پاڼه کې پیغام پروت
خـــاطـرې د زړه حالـونه په ګلبڼ کې

تخیـل احســاس تصویر مینه فکرونه
بېلا بېل رنـــګه شعرونه په ګلبڼ کې

خوشال خان رحمان حمزه خو اوس ویده دي
نــن یــې وایــو دیوانونه په ګلبڼ کې

تاندې هیلې تاند فکرونه پکې نغاړې
دشېــرزي د زړه رازونـه په ګلبڼ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلوريزې

ستا ښــــکلي ساده ښکلا
دا زما د زړه ښـــــــکلا
تاج دې د ښـــــکلا په سر
خوی باندې ساته ښـــکلا

د ښــکلو مینه داسې زړه ته رسي
لکه د خوږ ګوتې خوږ زړه ته رسي
د صـــــداقت په نړۍ راج چلوي
ژر د مینو کیسه زړه ته رســــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظر

ستا د کلـي مازدیګر ته مې نظر شو
پکې ښکلي شان بشر ته مې ته مې نظر شو

زړه مـې وکـړل څو بې درېغـه ټکانونه
د خـوبانـو ستـر رهبـر ته مې نظر شو

راکتـل يې خـو شکـمـن و بېګانـه وم
ځلیدونکي غوندې لمر ته مې نظر شو

په څېـره کې يـې له ورایه مینه تانـده
د مړو مړو سترګو نظر ته مې نظر شو

نابېـره يـې زړګــی راتــه ډالـــۍ کړ
څـه جـادو وه څـه منتر ته مې نظر شو

اوس يې زه د زړه په غولي کې ساتمه
اې **شېرزیه** چې ځیګر ته مې نظر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارمان

دا ارمان به دې پوره کـــړم
تا به ښاد ځان به اوبه کړم
نوربه داسې کيسه نه کړم
رعايت به ستا د زړه کـــړم
زه به ډېره حوصله کـــــړم
ژوند به تاته يوه تحفه کړم
تا به ښکلي تـــــرانه کړم
په ښه شان به زمــزمه کړم
د زړه کـــور به ويرانه کړم
تا به لويه فلـــــسفه کړم
ژوند به تاته په نامـــه کړم
نوره ووايه چې څه کـــــړم
داارمان به دې پوره کـــړم
دا به واړه درته زه کـــــړم

زړه دوه په دوه ملګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ازار واړه زاړه کـــــړم
نو ارمان به دې ايره کـــړم
دا تندی به په سجده کــړم
له شــــــــرابو به توبه کړم
ښه به تېره کلــــــمه کړم
نور به ســــوچ د اينده کړم
چې دا بد کــړمه که ښه کړم
مشوره چا ســــــره وکړم
اې شــېرزيه دا کيسه کړم
بس خـــوبانو مينه نه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د زړه پـردې مې شولې پرې درپسې
اخیـر به درشـم تر کـوڅـې در پسې

د مغـروریت له ماڼـۍ ښکته شه ته
هسې نه اور شي دغه شپې درپسې

راشــه زمـا د پرهــرو درمـــان شه
بیا به څوك نه كوي كیسې درپسې

اوس چې په ټول مالت کې دوست نه لري
دا خــو زمـا شولــې ښېرې درپسې

دا چــې وفـا او نېکـي نه پـــېژنـې
شېرزی به نه کړي اند ېښنې درپسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داستان

اې د کلـــي مازديګـــــره لېونيه
رادې نـــه وړه ښـــه خـــبـره لېونـيه
له مــودو مــودو نه تاتــه انتظـار وم
تــه رانـغلـــې د زړه ســـره لــېونيه

ډك زړګی خوبه مې تورلحد ته يوسم
اې زمــــا قـــاتـــل دلـــــبره لېونيه
نن به ووايـم د زړه حــالــــونه تاتــه
راته غــوږ کــېږده لـــه ســره لېونيه

د نکريزو نه مې لاس رېږدي يريږي
پــه تــا ځـــه کـوم اخــتــره لېونيه
د ځوانۍ په لو کولو کې همکار شوې
د بابـا د وخـــت خـنـجـــره لـــېونيه

فلسفـــې ته ګوتې مه وروړه وړوکيه
هســـې نه شـــې لــه نظــره لېونيه

په روه روه ملګري

اوس په خپلــه جنـــازه ژړلی نشو
اه پښتـــونه لـــر او بـــره لېونیه
لاس کړوپورته ددوعا راته ښېرې شي
څــه علــت دی مقـــدره لېـــونیه

نور به نه وایم چې څه راسره کېږي
د ځـــان ښـه نه وي خبـــره لېونیه
د شفق له سترګو غتې غتې تللــې
زه دې پـرېښـــودمه لــمـــره لېونیه

جګې جګې منارې دې کړلې رنګې
اې د سپینـــو زړو شـــرره لـــېونیه
د مستـــۍ د شوخـو شوخو فلسفو نه
مـــه خبـــرېـږه سره پرهـــره لېونیه

وړاندې چېرته رڼا شته ده که تیارې دي
د **شېـــرزي** د ژونـــد رهـــبره لېونیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغه ژوند لکه هنداره

دغــه ژوند لکه هېنداره کله یورنګ کله بل رنګ
دغه وخت دی دغه لاره کله یو رنګ کله بل رنګ

کلــه خـــاندو کله ژاړو عـــــــادتونه د وطن کړو
اې د لـــرې وطـن یاره کله یو رنګ کله بل رنګ
چې د مســـتو خمـــارونونه خمار خمار راتول کــړو
ځان نشه کړو پرې د واره کله یورنګ کله بل رنګ

د خـــوبونو کـــاروان تلی دی د ستا دربار ته ګله
شپــه کړو تېره تر سهاره کله یورنګ کله بل رنګ
چې په وخت د ځنکدن کې راپه یاد شوې ژړا راغله
اې زما خوږه دلـــــداره کله یورنګ کله بل رنګ

دا ګیلې ګیلــې ژوندون مې لکه باد درسره یوسه
نور یې نه غواړم واکداره کله یورنګ کله بل رنګ

محبت مې سپـــینو اوښکو تر ګـریوانه پورې یووړ
د شــېرزي د غاړې هاره کله یورنګ کله بل رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پسرلیه

لــــږ خـــو راوړه سره ګلـونه پسرلیه
چـــې ترې جوړ کړو امیلـونه پسرلیه

ستا په تمـه مو بلا وختـــونه تېرکړل
درتـــــه ډېــر دي امیــــدونه پسرلیه

لږدسولې سپین ګلونه غېږکې راوړه
له جنګ ستړي مودي زړونه پسرلیه

جوړې ځالــې د مــرغانو دلته پاتې
بېـــرته راولــــه سیلــونـه پسرلیه

چې یې وستایم **شېــرزی** په غزلونو
دنــــګ نښتر شنه چنارونه پسرلیه

هره ورځ په مکتب ورځم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سترګې

سرې شي شرابي شي ګنهـګارې شي
ښکلـو ته کــتل وکـړي بدکارې شي

زه کـه ترینه هرڅومره توبې کـړمه
بیـا هم لیــونۍ شي او بې لارې شي

اوس چې دي یادونــه یادوم ګــلـې
سترګې مې له اوښکونه خمارې شي

ځاردې شم دښکلو ښکلو سترګــونه
ماتـه چې راوګوري خونــکارې شي

پـــام چې شوګیرو کې درنه پرېنوزي
بیا نو له نظــره شي بیــمارې شي

وګــوره **شېـرزیه** مـخـامـخ ورتــه
سترګوته چې سترګې شي شاندارې شي

هره ورځ په ورځ ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوی اختر

لوی اختر

د ولـــس د زړو درمـان شه لوی اختره
تیت کاروان ته موڅاروان شه لوی اختره

د غمـو سپلـۍ وهلي سـاه مو بـــنده
ته مـو روح شه ته مو ځان شه لوی اختره

لـړې وشینـده خوښۍ پـر افـغـانانـو
تـه یې هیلـــو ترجمان شه لوی اختره
لــه ډېر وختـه انتظـار درته ګلـــونه
څه شـــبنم شه څه باران شه لوی اختره

د سپـرلي د زېـړو ګلـو ځولـۍ راوړه
نازل تنـــدر په خزان شه لوی اختره
مونږدسولې دجام تږي دلتـه ناست یو
په وچ حلق مومهـربان شه لوی اختره

زمونږ ژوند د فـرعونیانو په لاسو کې

د موســـی په لار روان شه لوی اختره

ډېره روه په روه ملګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـې ملکـه د ښکلا دې تاج ته واخلـي
ښکلی لـــعل د بدخشان شه لوی اختره

په نکـــریزو د یو چـا په سپین ورغــوي
د شیـــرزي په نـوم ودان شه لوی اختره

هر یو انسان نن د انـسان دښمن دی
کفـري جهان د مســـلمان دښمن دی
هـر یو منکــــــر یې سمې لار ته باله
فـرعون قارون مې د جنان دښمن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ستـــا له عشقه ناکــرار یمــه دلبره
په ژونـدون کې خواروزار یمـه دلبره

غریبـۍ رانه دوستان دي پردي کړي
د هــــر چـــا د ولـــو بار یمـــه دلبره

ستاغمونو هسې سوی لکه سکوریم
لـــه کـالـــونـونـه بیمار یمه دلبره

محبت به مې په ټول جهان مشهورکا
ســـتا د سپینې غاړې هار یمه دلبره

چې دمینې په لارځمه ګرم مې نـکړې
د منصور د وخـت یادګار یمه دلبره

دشېرزي د ځنکدن سلګۍ مې هېرې
نـن پـه لـــتـه د بـل یار یمه دلبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

له ژوندون نه ستړی شوی بې منزل یم
د الفـــت د لــویــې لارې پــه مزل یم

ستا تر دره نـن پـه یـــبلو پښو روان یم
پـه اغـزنـو لارو تلـونکـی یمه پل یم

زړه پـه مثل د هېنداري ماتیـــدای شي
چې دې زړه یمه دلداره نودې خپل یم

مـحبـت کـول د زړونـــو جــواري ده
زه ســاده یمه نه فـریب یمه نه چل یم

د شېرزي دزړګـي مـرانـدې راپرېوتي
لـه کـاروانه پاتې شوی بې مشعل یم

ځوانه روح پـه ماتې ساه ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

مــات لکــه چنار لاندې راپرېوتم
ووتـــم لـــه کار لاندې راپرېوتم

نه مې دغـرور کلي کې شپې کړې
هســې ګنهــګار لاندې راپرېوتم

ســتوري به دچا درته پناه یوسي
زه تـرینــه مـدار لاندې راپرېوتم

دنګه دنښترپه څـېرځواني مې وه
اوس لکـه بـیمار لاندې راپرېوتم

نه مې شي سجدې ډېروخدایانوته
څارشم له یو څارلاندې راپرېوتم

ویې کړو انکارد پاکې مینـــې نه
زه **شېـرزی** بې وارلاندې راپرېوتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

لارو کې جنګونه دي نکوم باور په چا
تورد خلکو زړونه دي نکوم باور په چا

زه يې غـولـولی يم څو څو ځله تېروتم
ډېرغـدار وختونه دي نکوم باور په چا

ته چې پناه کېږې يار يوځل مخ راواړوه
لـــرې سـفـرونـه دي نکوم باور په چا

ډك د هيـلو زړه مې بس تاته درسپارلی دی
دې کـې پټ رازونه دي نکوم باورپه چا

رنګه د **شېرزي** د زړه څه دنګه ماڼۍ شوله
زړه کې يې دردونه دي نکوم باورپه چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

غم د يارچې پرې امباردی زما زړه دی
له هر چانه چې بيزار دی زما زړه دی

واړه عمر چې سودا پکې د غم وي
چې کندړکنډر بازار دی زما زړه دی

اوښکې پاکې کړه صنمه ژړا بس کړه
دارقيب دی دايې کار دی زما زړه دی

محبت خو پاچاهي يا ملنګي وي
چې ورګډپه سورانګاردی زما زړه دی

د **شېرزي** غمونه ډېر زړه يې وړوکی
لاروی ددغې لار دی زما زړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شملې

هسکې شملې په تیټېدودي پښتونخوا ورانه شوه
پښتـانه  واړه په سلګو دي پښتونخوا ورانه شوه
بـدن مو یو دی کار ترې دواړه اخلـي ظلـم کوي
زړونـه پـه آه و فـریادو دي پښتونخوا ورانه شوه
چـې بـه دښـمن ته لـکـه ډال ولاړ وو هـغـه ژښـي
د خاورو لاندې په خوبو دي پښتونخوا ورانه شوه
لـه اصفــهانه پاچــاهـــي وه تر ډهـلـي تختـونو
نن مې کـابل ته په راتلودي پښتونخوا ورانه شوه

*****

کابـل د ســرو غمــیو ډک و ښایستونومــور وه
د ننــګیالـو زلمــیو ډک و ښایستونومــور وه
د ملالـــۍ په خـوله ټپه وه ځوانان وړې زمـــري
هـغـه مـیدان بریـو ډک و ښایستونومـــور وه
د بـــګرام پېــغلې یې سـلام ته راتلې ډلې ډلـې
هېــواد د ننګ سـړیو ډک و  ښایستونومـور وه
د سومـــنات سـاه یې راوویسته د تــورې په زور
مـلت د پاك زړګــیو ډک و  ښایستونومـــور وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

*****

په ننګ کې نه لري مثال زما ساده پښتانه
افسوس چې وژني خپل مشال زما ساده پښتانه
وخت به راځي چې دا اټک به له تورمخو اخلي
همېش به نه وي په دې حال زما ساده پښتانه
د لراوبر ځنځير به و شلوي يو موټی به شي
د خړ خيبر په استقلال زما ساده پښتانه
د سباوون زيری راغلی څو شپې تېرې به شي
بيا به سيالي کوي د سيال زما ساده پښتانه

*****

غرونه يې ډك وو له ښترو زما لويه پکتيا
پکې مشران وو د خبرو زما لويه پکتيا
لوی قندهار مې د زمريو ننګياليو مېنه
د احمدخان فاتح لښکرو زما لويه پکتيا
د ننګرهار د ښايستونو درته څه ووايم
د بدخشان ياقوت جوهرو زما لويه پکتيا
د شمالي سرې درې کابل مرکز د زينت
د خړ خيبر خوشال ملګرو زما لويه پکتيا

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه د اسیـــا دی ځلـــیدلـی وطـــــــن
ارمــــان چې نن دی غـورځیدلی وطـــــــن
د وطن غـــیر کې مو خـاپوړې کـــــړي
هـم مـــو د لاســـه دردیدلـی وطـــــــن
نور به وحـــدت وکړویو موټی به شـــــــو
سمسور سمسور به کړو دا ښکلی وطـــــــن
ملهـــــم د کار غواړي ټپي وجود یــــــې
مـــا د خپل تن په ځېـــر ګڼلی وطـــــــن

*****

د غفلت خوب نه به شي پورته میړاني افغانـان
د ابادۍ ګـــام به اوچت کړي توریالي افغانـان
ګلان ګلان به کړي خـزان وهلي خړې باغچـې
نور به په لــویو لارو نه کــري اغـزي افغانـــان
د ابدالي شمله به هسکه کړي پښتون شـــېرزیه
ددې وطـــــن واړه زاړه پېغلې زلمي افغانــــان
دخپلې خاورې خپل ناموس دخپل عزت په خاطر
سرونه بایلـــي هېـــواد ساتي ننګیالي افغانـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژړو کیسه

د زړو کیــسه ده ســترګې څه ووایــي
میـنــه خــوږه ده ســترګې څــه ووایي

اوښکې بــه دروـمــي قافـلې قافــلې
دا یــې ګیلــه ده سترګې څــه ووایي

دوی خــو لیــدل کــوي دزړه په امــر
زړه عـجیبــه ده سترګې څه ووایي

زړه کــه پــرې اخلي تصــویرونه دچــا
ســترګې کمــره ده سترګې څه ووایي

سترګې چې سترګوته شي سترګې سترګې
د زړه تـوتــه ده ســترګې څه ووایي

د شېرزي سترګې سپیني سپیني اوښکې
دایــې تحفـه ده ســترګې څــه ووایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

درته پاتې به وطن شي ته به څه کړې
بې بلبله به چمن شي ته به څه کړې

په دنیا کې د څو ورځو میلمانه یو
دهرچابه رنګ مسکن شي ته به څه کړې

چې دې څه وکړل صنمه مهربانه
ستا تهمت زما لمن شي ته به څه کړې

ستا د حسن طلبګارلېوني ګرځي
چې ارزانه دې دیدن شي ته به څه کړې

پېغلې پېغلې هیلې واړه ځوانیمرګې
چې په تن دې سپین کفن شي ته به څه کړې

د شېرزي د زنده ګۍ پانه ده ژېړه
په ارمان کې به دفن شي ته به څه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

کړو دې خاورې د پښتو سخته رواجه
په بستـــر باندې پـــراته یو بې علاجه

نه درمان شته چې پرهرراله ملهم کړي
په ژونـدون کې یو د هـرسړي محتاجه

غم کې وخاندو خوښۍ کـې په ژړا شو
ګـــرېوان څیـري لېـوني یو بې مزاجه

سپېلني شي ښکلي مخ ته وار د واره
عـاشقان خو پاچاهي کړي بې له تاجه

اې شـېرزیه که دوی ګرځي په فضاکې
زمـــا یار و رسیـــدلـــی تر مـعـراجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

زه يې چې کوم خبرې سپينې دي
يه جانانه ښکلې ګلورينې دي

مه ګرځه اغيارو سره ځاردې شم
اوښکوته مې وګوره چې وينې دي

ټوله دنياګۍ ورته حيرانه ده
ښکلې پښتنې خو نازنينې دي

ستا شرابي سترګوته کتی نه شم
اور وروي ښکليه اور ورينې دي

اوس يې له دې ښاره کډه تللې ده
هرڅه يې **شېرزيه** اوس بې مينې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلفام

درېسې مري مې د وجودهريواندام راشه
زما ګــلفـام راشه په تا ژوندی یم
په ســلامونو مې زړه نه صبرېږي
په تصويرونو مې زړه نه صبرېږي
د زړه په وينو درکوم دغه پيـغـام راشه
زما ګلفام راشه په تا ژوندی یم
په پرهـرو مې مالګې مه دوړوه
په ارمانو مــې خـاورې مه اړوه
نوسوال زاري درته کومه چې يوګام راشه
زما ګـــلفام راشه په تا ژونــدی یم
په بسترپروت يمه تپوس مې نکړې
کله چې مړشمـه افسوس به وکـړې
زخمــي زړګي ته مې له بره په الـهام راشه
زما ګــلفــام راشه په تا ژوندی یم
سترې ژوندون مې بې له تا تېرېږي
زړه مې يتيـم دی هر سبـــا ژړېږي
د شېرزي وينه شه رګونو کې مـدام راشه
زما ګـلفام راشــــــــه په تا ژوندی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانه

د پردو په لمس بېلیږي پښتانه
لاتر اوسه نه پوهېږي پښتانه
نه یووالی محبت پکې ښکاریږي
نه له یو بل قربانېږي پښتانه
پښتونخوادتوروغرونوپه منظرکې
ژني ژني یې قتلېږي پښتانه
داافغان به له فغانه هله خلاص شي
چې په خپل زور ودرېږي پښتانه
مخور پکې په یو بل نوم ورکېږي
څو به مري څوبه کمېږي پښتانه
نړیوال دي رسیدلي تر مریخه
بې تعلیمه رالوییږي پښتانه
دشېرزي ارمانه هله به پوره شي
چې په یو تهغرتولېږي پښتانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلوريزې

چـې په خپلـو کې پردي دي پښتانه دي
چې په جنګ کې ميړاني دي پښتانه دي
پــرې وريـــږي د سکــــروټو بــارانونه
د بــل ځـــانته سپيلـني دي پښتانه دي

وخت راته سرې سکروټې وګـــرځيدو
بخت راته سرې سکروټې وګـــرځيدو
ژوند مې د ســرو لـمبو د پاسه روان
سخت راته سرې سکروټې وګرځيدو

ګل‌پړۍ روه په روه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

سـروه په ځوانۍ ومه تا خاورې کړم
مســـتــه لېونۍ ومه تا خاورې کړم

ما سره دې ونه کـړو محـنت اشـنـا
ښکلې شهزادګۍ ومه تا خاورې کړم

ډېره ډېره مېـــنه مـــې درکـــړې وه
ستادلاس بنګړۍ ومه تا خاورې کړم

ښــه په اعتـــمـاد مې زړه درکړی و
خــامه ښـاپېرۍ ومه تا خاورې کړم

ډېـرو مې دیـــدن پســې ژړلــي وو
سمــه درخـــانۍ ومه تا خاورې کړم

ولې دې شېرزیه داســـې کار وکړ
ور د پاچــاهـۍ ومه تا خاورې کړم

ګل په ګل خوږه مڅکری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ستاله غمه سخت بیمارشوم که باورکړې
ګل وم خاوروکې ګذارشوم که باورکړې

د مرګي شراب پیاله کې راته وړاندې
په لیدلو یې خمار شوم که باور کړې

د اختر په ورځ دې رانکړل لاسونه
له مودونه انتظار شوم که باور کړې

په زرینو سندریزو ګوتو جوړ وم
ستادسپینې غاړې هارشوم که باورکړې

خرخزان مې کړه راوړه ستا چمن ته
زه دې یار شومه ریبارشوم که باورکړې

د شیرزي امید یو بل پسې ډوبیږي
له ژوندون ځینې بېزارشوم که باورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تسبې

ستا د کلـــي مـازديګــر سرې اوبه
چې پرې ناست وو د هغې چينې اوبه

تا په لـــــپو راکولـــې ما به څښلې
لکـــه اوښکــې مـرغلـرې شنې اوبه

مـا ويل چې که اشنــا اب حيات دي
هــم زمـــزم ته ورتـه وې خــوږې اوبه

دهېنداري غوندې مخ پکې ليدای شي
څه د ستا څه دسپوږمۍ شغلې اوبه

په تشبه کــې مې انځور د ځان ليدلو
په ګـــرېــوان د يو ميــن څپـــې اوبه

سپينې شګې يې په تل کې پرکېدلې
مـــا وې پرې دي د زاهـد تسبې اوبه

لکه لمرچې په شبنم شينکي سهرکې
د شـــېرزي اوښکــې راتلې رڼــې اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

رادې نکـــرلـې پټـــې ته رانه لاړې
فـــریادونه په خـولګـې ته رانه لاړې

تش کالبوت یمه دلداره ساه مې تللې
په سرو شونډومې سلګې ته رانه لاړې

تا خـــو وخښلـې زمـا دزړګـــي وینې
تاویـدلـــــې لـه مستې ته رانه لاړې

دغـه ژوند به خامخا درپسې تنګ شي
غـــرور مه کړه په ځوانې ته رانه لاړې

د ژوندون کتاب کې بېل بېل سرلیکونه
کلـــه غـــم کله ښــادې ته رانـه لاړې

د شـــېرزي دسترګو تورد زړه ټکـوره
سورګلاب شې سرې غوټۍ ته رانه لاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

تا چــې په ما د ظــلم پښه اېښي ده
د زړه په سر مې ستا کيسه اېښي ده

وختونه تېر شي داسې مه وايــه جان
مــا ســره هــره خــاطـــره اېښي ده

مــرګی هم زړه غوندې ياران بېلوي
په زړه مــــې هغه جنــازه اېښي ده

زه مســلمــان يــمه جنــان يـــادوم
ټنــډه مــې يار ته په سجده اېښي ده

شـــېرزيه ستا غزل فطرت ښــکلوي
هسې دې زړه کې ترې ګيله اېښي ده

ځړه په روه روه ملګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تجلي

د ستم په جېلخانو کې دې بندي کـړم
چې د حسن تجـلــوکې دې بندي کـړم

چـارچـاپېره دې اغــزن تـارونه تاو کړل
ښه دزلـفو په کمڅو کې دي بندي کړم

اخــېر څـه جــرم خـطا راڅېنـې شـوې
چې په دنګو دنګو غروکې دې بندي کړم

ستـــا د حـسن تجلـو يم سوځـولـی
اخېـــر ولې په لـمبو کې دې بندي کړم

د **شــېرزي** زړګی له هرچانه درخواته
خـو د حسن په جادو کې دې بندي کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څوك موغمي څوك مو لعلونه يوسي
څوك مو د سرو سپينو كانونه يوسي

څه شو غــيرت څه شو ايمان زمونږه
چې مــو له پېغلـو پېزوانونه  يوسي

بې وختـه راغـلل څه خزان خو نه دی
دغـــه بـــادونه به كـــورونه  يوسي

د زړګـــي سره زنـده ګي ګرانه شوه
كــور ته مـو راشي رانه زړونه يوسي

د چـــا  په لاس يـې نوره نه جــوړوو
شـــايـد  بابــري يوسي ګلونه يوسي

د اســلاميت او افغـانيت په نامـه
شـــېرزيه خير كـه مو ســرونه يوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

د پېغلو مینه خـو تـاوان غـواړي
کـله بنګــړي کلـه پـېزوان غـواړي

هسې په ټوکو باندې نه شي میــنه
غــریبـان ځکــه ترې امــان غواړي

دا د پښتو ملك دی یاري ګرانه ده
دلــته هم سرغواړي هم توان غـواړي

د سترګو تور به دې راکم شي دلته
کاروان هــرومــرو څاروان غواړي

کــله به وتــړي وطــن به پرېږدي
چې هم ښاغلی غواړي ځان غواړي

پرېږده چې خوب وکړي ارمان به لري
شـېرزی له تانه چې زلـفان غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شــاعـري

شاعرانه محل کې اوسم دروغجن نه یمه
چاپېر حـالاتو مجبورکـړی یم مین نه یمه

داچـــې دا توري بندپه بند ترڅم غزل جوړوم
داسې مې مه ګڼه چې خوښ یمه غمجن نه یمه

دوطن دردفریاد مې یو یوپه سینه کې کتار
داخپلې اوښکې به مې یوسي لامبوزن نه یمه

د شاعرۍ مرامنامه کې مې بار بار لیکلي
د چا خـالونو سورسالو ته پکې ژمن نه یمه

داځینې وايي شاعري دمینتوب ښکارندوی
زړګـیه څــه وايې مـین یم کــه مین نه یمه

د شاعــرۍ دنیا له ډېرو حقایــقو ډکـــه
شېرزی تراوسه دې مزل کې بریمن نه یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

چې رب درکـړل دولتونه ازمايي دې
ډېـره ځـمکه جايدادونه ازمايي دې

ته به وايې بخـتـور يمه دنـيا کې
چې دې جوړکړل منزلونه ازمايي دې

د فـرغـون دکور دننه يې لوی کړی
درتــه ښايي حکمتونه ازمايي دې

دنمرود اودقارون غوندې چې نشې
که ډېر درکړي درهمونه ازمايي دې

ابراهيم ته يې شېرزيه ګلشن جوړکړ
جـوړوي له اور ګلونه ازمايي دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

بیا پسرلی راغی ټول جهان به سره ګلونه شي
جوړبه مو وطن شي هره خوابه سینګارونه شي

ګرځو به اشنا غاړه غړې په شنو فصلونو کې
لړ غــوندې پوره به مو د زړونو ارمانونه شي

زه لــکـه نیمګړی لمر شفــق کې درنه پرېوتم
ته موسکۍ موسکۍ شه چې رڼا شي مشالونه شي

مــه کــوه صنمه په تېرو باڼــو ویشتل هســې
شي به مې وجود پرهرپرهر ډېر به دردونه شي

ستا شېرزي دزړه په سرلیکلي ستایادونه دي
کلــه چې وخــتونه شــي بیا به حسابونه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځار

یاره تېربه شي وختونه ځار دې شم
بیا به وکړې ارمـانـونه ځار دې شم
زندګي کې دې له هر چانه جداکړم
درته پاتې شول ملکونه ځار دې شم
د زړګـــي اهــونه وختــل اسمـان ته
رابـه نشي تېر عـمــرونه ځار دې شم
دزړګـــي سـودا مې تا سـره وه پټه
تا خـبر کړل عالـمونه  ځار دې شم
ما په هر لـمانځـــه دعا درته کوله
ته اوس نه کوې نفلونه ځار دې شم
ستاپه مینه کې مې هرڅه وو بایللي
تا خـو وکـړل انـکارونه ځار دې شم

دشېـــرزي دلـېونو خیالـــونو یاره
پرې امباردې کړل غمونه ځاردې شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوسی

راتلې راتلې زمـا په زړه وختې
جـانانه ښــه دې وکړل ښه وختې

لکـــه وي چرته ترهيدلي هوسۍ
دښــتې نه راغللې په غــره وختې

ما خــو وه سمه لار ښودلي درته
ته ليـــونۍ په ديـــوالـه وختې

څومـره مــزه کا د نښترو پاڼــې
تـه مــې د زړه په سر چينه وختې

زه به دې عـمـرعمـرنه هېــروم
ښايسته انځورشوې آيينه وختې

ټکــه غرمه ده شېرزی تږی تږی
تـه مې په لـــپه کې اوبه وختې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موري

مــــــوري بغـــيرله تا ژوندی به یـــمه
دغه دروغ دي چې زړه چاودی به شـــــم
خو هغه ژوند به نه وي ګرانې مــــــورې
کوم چې به ستا په غیږ کې ما تیراوه
هغه پستې خــــوږې خــــوږې خبرې
کله هم ســــــتا هغه درنې څپیړې
هغه له خـــــونده ډکې پنده ډکې
کله غوسه کله موسکا به شولې
دستا به کومـه یوه نیکي یادوم
دستا بلا بلا احـــسان دی پر ما
زه خو عاجـــــزیم دا کولی نشم
مـــــکې ته تا په اوږو وړلــــی نشم
تا خــــو په ژوند ډیر نازولـم مـــورې
له هرې بدې دې ســــاتلم مــــــــورې
زه چې ماشــــــوم ومه دســـتا په غیږکې
خـــــوله مې خـــالي چـــــرې ژړانه نه وه

شپږ په دوه دوه ملګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته کړې شــپه به وې ویــــښه ناســــــته
په الــــــــهو به دې شـــوه ژبه سـترې
ښیرا په خـــوله به دې راتلله مـــــــورې
د ډیر ګرانښت دې نه کولـــه مـــورې
وې به دې شوله چې زهیرهم مـــه شـې
لږ چې رالوی شومه مکتب شـــوې راته
ته مې شوې پیر زه دې مرید مـورجانې
د ستا خوارۍ به مې شي هـــیره کله
چې څه مې غوښتي تا راکړي مـــورې
مادې هم رب په دواړوســـترګـوړوند کړي
چې ستا له امره مې ســــــــر وغــړاوه
په ورین تندي مې ســتا خـدمت ونکړو
شېرزی دې رب له هـغوخـلکو نکړي
د مـور زړګی وي هـــــمیشه په بچي
د زوی زړګی ولاړ په تـــــوره تـیږه
ته دې ژوندی ژونـدی ژوندی وې مـــورې
راته دې ډیرکالــه ژوندی وې مـــــورې
ته د **شـېرزي** زړګی یې مـــــورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

تـــا د سترګــوغــړولو طاقت راکړ
ښکلي مخ ته دې کتلو فرصت راکړ

اوس به څنګه ګنهـګارنظرقابوکړم
په توبې دې چې بخښلو صفت راکړ

په تلوارکې یوهرڅه له موږه هېردي
تا په ژونـــد دتېر وتلو خصلت راکړ

اې دروح فرشتې داخل مې که پرېږدې
نو جـنت ته دې ورتللو مهلت راکړ

ستا له قصده به ددوو پرځای څلورکړم
تـاابلیس دپرېښودلو مصلت[1] راکـړ

یـــادوم به یې تـرعمره اې **شیـرزیه**
چې په ژوندیې پوهیدلوعلمیت راکړ

(۱) مصلحت

# خاطره

د زړه په سرمـــې خاطره ليکمه
ورته عنـوان بـه ستا نامـه ليکمه

غم مې ګاونډ کې اوسي کلی مويو
اشنـا د سترګي ژوند کيـسه ليکمه

د زړه په وينـــو مـو روزلي غوټۍ
خو نن قسم چې ترې ګيله ليکمه

کله دې غـم کله ښادي ميلمه وي
پـه نـرمو ګــوتو حـوصله ليکمه

د زړه په کور مې بمبارونه کيږي
چــاته ترخه چـاته خـــوږه ليکمه

ستادخوبونو تعبيرونه ګران شول
**شېرزيه** ژوند دې شوګيره ليکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

زړونه مو چوي نور پاخه دي خوشالي چرته ده
وچ موله اوښکو نه ليمه دي خوشالي چرته ده

دلته خوټول خــلك غمجـن دي او ويرونه کوي
هلتـه څه حال دی دلته څه دي خوشالي چرته ده

دلتـه خونشته دی فرغون خولارويان يې شته دي
چې ترينه تنګ واړه زاړه دي خوشالي چرته ده

د چنارونو پاڼې زيړې شوې مرغــان نه راځي
څوك مروردي اوڅوك مړه دي خوشالي چرته ده

هــريو جابر ده توره کښلي دلته وير جوړوي
په وينوسمې غرونه سره دي خوشالي چــرته ده

شــېرزيه ووايه صفا چې اوس ژړا نه درځي؟
ورونـه د يو بل نه خپه دي خوشالي چرته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وعــده

زما کـورګي کې اور لمبې لمبې و
د ستاپه کورکې غړ چمبې چمبې و

تــا مې سلګـــيونه لذت اخيسته
زمــا زړګـــی و خـــو ايرې ايرې و

اوس دسهار پيغام بې ميني راځي
مخــکې راتللـو خو وړمې وړمې و

هغه وعـده يې کـړه پوره په مينه
وجـود يې راوړلو پارچې پارچې و

**شېرزيه** ستاله سترګواوښکې تللې
ګـنـې د ډيرو ژوند نغمې نغمې و

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امیدونو آمیل

دومــره مه کوه غـرور په تورو سترګو
بیا دې زړه کړلوټکور په تورو سترګو
د ښایست جلــوه دې لرې لرې تـللي
درته جوړ نشي پیغور په تورو سترګو
د بـــورا پرځـای شــبنم د ګل پـر پاڼه
سحرګاه تـه شي مشکور په تورو سترګو
درته جوړ مــې دی امیــل د امـیدونو
ستا پرغاړه زوږ اوشور په تورو سترګو
د رقــیب سینه به یخه شي چې یوشــو
لاس یې خلاص دده دزورپه تورو سترګو
پسرلی شولوشپونکي ته شپیلۍ ژاړي
وږمــې پـریــوتې هر لور په تورو سترګو

همیشه دې وي خوشال په زندګۍ کې
د **شېرزي** دسترګوتور په تورو سترګو

ږیره روه په روه ماګرمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څوك چې ډول وهي زوريږې لري جانه
نوره ورته هسې كولمې خوري جانه

هــر سـړي نــن ښه بد پيـژندلي دي
ولـــې بيا د بــل كيسې مني جانه

دا كلــى خــو مينه مـين نه پريږدي
خـوار مـين د كلــي نه شــړي جانه

ډيــر به د نخــرو په چـــړو ووژنــې
وادې چــول ليچــو كې بنګړي جانه

لاس په لاس رقيب سره چې ګرځې ته
دا شـــېرزى به كډه چرته وړي جانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

توره شــپه وه سترګو نه کړلو نظر
برابر شــومه د میــني په لوی غــر

ګلورینه زندګي ازغي ازغي شوه
چــاته ووایم د ســوي زړه خــبر

مینه پایي د عــاشق په پاکه مینه
معشوقــې خو نه د خیروي نه دشر

د پرهر پرهر زړګي په وینو لیکم
د یو چا په دروازه باندې منـــظر

داشپرزی خولاپخوا دی غولیدلی
په خــوبانو ځــکه نه کــوي بــاور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختر ته!

ته د اخــــــتر د خوشالیو میلمه
زه د نـــړۍ واړه غمـونو کوربه
داچــې ترتا در رسیدلی نشم
له پنډ غمونو پاڅیدلی نشم
ســلام ســلام قـــربانه
دامې پیغـــام قـربانه
تا ته اختر مـــبارك
دازرین لمرمبارك
******
شي دې اخـــــتر د خــــوشالیواخـتر
د غـــم ځــپلــو د خــوښــیو اختر
دغه د اوښکــــــو ډکې سترګې
که دغمـــو ځینې شي سپکې سترګې
اختردســـــولې سره مل شي راشي
دجـګـــړو لرې پل په پل شي راشي
دایتیمـــان چې په خـــنداووینم
خان وغریب چې خواپه خواووینم
جـهان ته وښایوهرڅه کوی شو
بغیرله جنګه یوکیده کوی شو

گرانه ورور په ورور مبارکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به نــو هلـــه په رښـــــــــتيا اخــتر يې
ته به نــو هلـــه د هـــــر چـــــا اختر يې
بيا به دې لمانـځـــــو په خـــوښيو سـره
لــه اتڼــو ډولـــــــو ســـورنيــو سره
دا خپل لاســــــــــونه به د وينو پرځاى
داځلـــــي سره كړو په نكريزوباندې
اختر د ټـولـــو مبـــــارك شېرزيه
اوږي شه خلاصي له ټوپك شېرزيه
******

هغه څوك چې په لـمن يې لمونځ روا و
هغه څوك چې په مسـجد كې به تنها و
د ساقي ســــــره مې وليد ميكده كې
نن يې څــــــــــانته ناروا عمل روا و

# هینداره

کله راته پریوزې په هینداره کې
کله رانه ورك شې سـمـه لاره کې

نه دې هــیرولی نه ساتلــی شـم
یـه صنمه ته چې ځان بـیزاره کې

وباسه نفـــرت د زړه نه وباسـه
دادنګه ځواني مې درنه ځاره کې

ژوندنه مې دغم ځنځیرتاوشویدی
بند یمه د مینې سختـه چاره کې

اوښکې دګریوان غیږه کې ولوېږه
ستړی ستړی ژوندبه مې کراره کې

یه شیرزیه ژوند د خاورو ځلی دی
ستوري داسمان به بې مداره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مورکۍ

موريې بې له تامې ژوندسلګی سلګۍ دی
په زړه جـوړ پرهـر مې نـښه د يارۍ دی

د تا غــيرت شــي ارام د ټـولـو سـتړيـو
اوس مې هغه مينه خاورې زړه تنکۍ دی

خـوږ انځـور دې راته سـترګوکې غړيږي
څـه يادونـه څـه دې غـم دلۍ دلۍ دی

جنـتونه دې د پښــو د لانـدې خـانـدي
زړه مې ستادسترګو حوروته موسکۍ دی

ته د قــدر پرښــتـه د ذوالجـــلال يې
يــوه لاس کې دې زانګــو بل کې نړۍ دی

له ليمو دې اوښکې پاکې کړه شــيرزيه
محمـد هـم جـدا شوی له مورکۍ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دار



ګل مې کاغوټۍ مې کابهار مې کا
ومې وژنه زلفو کې په دار مې کا

اوس مې دژوندون سره هم ورانه ده
یارمې کا نګارمې کاخونکار مې‌کا

نشم ګرځولی زولنې ګرانه
صبر تمام شویدی په لار مې کا

ډېر ډېر ستمونه مې زغملي دي
تورو شپووهلی روڼ سهارمې کا

هر وخت به د یار په نرمه ژبه یم
وزما **شېرزیه** خوږ اشعار مې کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جدايي

دې ګذران ته مې سلام دی جدایۍ کې
ژوندون ګران دی بې له یاره تنهایۍ کې

مجبــوري ده د زړګـي پـه لاره دروم
د پاچا ســره ژوند نشي بدمعاشۍ کې

د ځــوانانو جنــازې وطــن کــې ډېرې
ناپوهي ده جهـالـــت دی کورنۍ کې

پښتــــانه یو پښـــتني غیرت به ساتو
په نـامه د احمـدخـان یو په نړۍ کې

ازغــي تل وي د ګلـونوسره څنګ کې
اې شـېرزیه غم او درد وي په یارۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

په اورونو کې سوځـېږي لـيونی وي
نه مـړ کـېږي نه رغــېږي ليونی وي

تــل دځـان سره دخيــال سندرې وايي
لاس يې کار تــه نه ټيټـېږي ليونی وي

دژوندون په هريو ګام کې ستړی ستړی
د يـار مـخ ورتــه يادېږي ليونی وي

د پيغـوراو دتهمت کيسه کـې نه وي
خو چې يار يې خوشالېږي ليونی وي

همېشه يې د خوبونو سره جنګ وي
اې شېـرزيه نــه بيـدېږي ليونی وي

ځوړه دوه په دوه مالګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چاربیته

ګـرانه چې تا راته خندلي نه وی
ما به ځیر ځیر درته کتلي نه وی
زړونه پـــیدا د مـحـبـت د پاره
د ښکلو ښکلو د صحبت د پاره

د زړه په سر مې چا نامه لیکلي
په زریـن تورو مې خامه لیکلي
له اوبوغوړپ نکوم رنګه به شي
دازنـدګي راباندې تنګه به شي
دغـه ارمان به مې پوره شي کنه
دزړه زخمونه به مې ښه شي کنه

دا دنیاګۍ ده د الفـــت دپاره
دښکلو ښکلو د صحبت دپاره

د زړه یوه ده بدلـوي یې کـــله
ځان به لمبه کړي خوپریږدي یې کله
دټول وجود سره مصلحت نکوي
پـدې خبـره کې غفلـت نکوي
ځان پاچا بولي پاچـــاهي کوي
په خپـــله خوښه زنده ګي کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان خوبه ډال کړي دتهمت دپاره
د ښــکلو ښـکلو د صحبت دپاره

په ځان لمبې مني يار نه سوزوي
تهمت کيسې مني يار نه خبروي
په توروغروکې اوسيدل خوښوي
دیارپه وړاندې سوځیدل خوښوي
نــه د پيــسو اود مــحــــل دپاره
نه د خــوراك اونه د چـــل د پاره

زنده ګي غواړي رفاقــت دپاره
دښکلو ښکلو د صحبت دپاره

مينه په وينه ساتل کــــيږي ګرانه
زړونه د زړو سره پوهــيږي ګرانه
ځان به لوګی خويارښه ښادغواړي
څوك چې عاشق وي دغه يادغواړي
مينه وفا مينه شفا شـــــــېرزيه
مينه ژوندون مينه دنيا **شېــرزيه**

ځان دې لوګی شي دهمت دپاره
د ښــکلو ښــکلو دصحبت دپاره

# غزل

زمـا ژوند زمـا ایمــان د تا په لاس کې
دشتې غرونه دنګ اسمان دتاپه لاس کې

دا احسان به داخواران چېرته پوره کړي
ګنهګار زړونه چشمان د تا په لاس کې

مــوږ وعــده درسره کـړي خـو ویریږو
خوبیا هم ویاړو په ځان دتاپه لاس کې

قـافـلـه د ژونـد تــوندئ باندې روانه
شپه اوورځ سپرلۍ خزان دتا په لاس کې

که مې خیـال وزرونه وکړي تراسمانه
ترې عاجز دشېرزي دان دتا په لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

اخـــتره ستا اظـــهار کولی نشم
له مجبوری سینګار کولی نشم

له هـره کوره فـــریادونه راځي
د ژوبلـو مړو شمـار کولی نشم

اختره راغللـــي یوه شېبــــه وې
د خپل جنـان دیدار کولی نشم

مرغــــانو داچې ځنګلونه نشته
د ګـــلاب ګل چنــار کولی نشم

نن دنکریزو پرځای وینې موښو
شــــېرزیه نور کرارکولی نشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تـــوله نړۍ یې چې اتل یادوي
د ښکلو ښکلې مې کابل یادوي

زمـا له کـــوره جنـازې روانـې
هـغـه بانـه او توراوربل یادوي

ژوند بې وفـادی وفـا نه پیژني
درتــه یوه ورځ به اجــل یادوي

چا کـړل تنها کې په کارو لاسونه
څوك له مستۍ نه یواوبل یادوي

ترکهکشــانه رسیدلی شپرزی
څوك په زبان څوك په غزل یادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لعل

چې په دارشي داسې زړه درځينې غواړم
تنـها زه يم چې دا څــه درځينې غواړم

پـاکه ميـنــه پاك نظـر پـاك امـيدونه
راله راکــړه هسـتـي نه درځينې غواړم

ما د سترګـو نظر سترګــو کې ساتلی
د ګــودر پيغلـې اوبه درځينې غواړم

لــړې وکـړه د يارۍ د ژوند خــــبرې
چې دمينې په نوم زړه درځينې غواړم

په ايـرو کې دې موندلی دی **شېرزيه**
هغه **لعــل** لـړه  شيبه درځينې غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درمان

رانه دې واخیستو درمان مرګیه
ولـــې به نه کـوم خپګان مرګیه

واړه دنیـا مې ده پـســې خوړله
راته خالي دې کړو میدان مرګیه

د زړه تـوته وه رانه بــیله شولـه
ژاړي مې تل پسې چشمان مرګیه

کـله مـو یو کـله مـو بـل ژړوي
راته اور شوی خپل مکان مرګیه

تل په اغــزنو لارو ځـو او راځـو
هیـچا مو ونکړو پرسان مرګیه

وینه په وینه مینځې تل افغـانان
د شیرزي ژوند خزان خزان مرګیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا راځغلي

تــولي لارې مې څارلې بیا رانغلې
سترګو سترګو ته کیدلې بیا رانغلې
ما به ځان درنه لوګی وه که خبروی
تورو خاورو ته چې تللې بیا رانغلې
دزړه غوښې مې خوراك شولې ارمانه
په لوی رب مې وسپارلې بیا رانغلې
ډیرې نښــې یادګارونه دې را پاتې
مــا ژړا سلــګۍ وهلې بیا رانغلې
خړوخاوروچې بدن یې خراب نکړئ
تریـنـــه پیغلې شرمیدلې بیا رانغلې
اوس مې نشي ددې خلکو سره مینه
رایــادیــږي دې غزلې بیا رانغلې
تنها ناست یم دسکون ځاله مې ورانه
په کفـــن چـــې پټیدلې بیا رانغلې
مــــروربـــه رانه نه وې د زړه سره
چې دې سترګې نه سپړلې بیا رانغلې
که مې هرځومره زارۍ خاوروته وکړې
ګــــرانه نه یې راکــولې بیا رانغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري په ورو ورو ځه

نه پوهیږم چې دچا سپیره نــظر و
چې له مایې واخیستلې بیا رانغلې
عزرائیل درته په سپینه جامه راغی
دا وعـــــده هرچا منلې بیا رانغلې

د مرګي ترخه پیاله یې نوش جان کړه
شــېرزي اوښکې تویولې بیا رانغلې

لکه اوبو وړی انسان هــــــر شي ته لاس اچوي
داسي مي زړه وړی جانان هر شي ته لاس اچوي
د خوبرویانو د خــــوبرو پیغام څلور کونجه کې
په هـــــر زمان په هر مکان هرشي ته لاس اچوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چنار

ته مې شه چنار زه به دې سيوری شم
ته مې شه مدار زه به دې ستوری شم

وبـه روزو دغـه شبنـمي غــوټۍ
تـه مې شه کتاب زه به دې توری شم

وبه کـړو مـزل تر خپل مـنزل پورې
تـه مې شــه قدم زه به دې لوری شم

نوم به دې زما له خولـې ونه لوېږي
هرڅو که وجود باندې کمزوری شم

سل وارې جرګــــې درپسې لېږمه
یاره که شېرزی درته مختوری شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګلونو باران



د زړه په سر مې چې ماڼۍ جوړوې
یاره چې غم که به ښادۍ جوړوې

ستا هرکلي ته به لیمه کړمه فرش
که چیرته ورونوکې دوستۍ جوړوې

هــدیرې ډکــې په ځــوانانو شولې
مــوږ ته په نه کیسه زندۍ جوړوې

زړګـی دې کاڼی نه خــوږیږي پرچا
دلــته لګــیا دلــته بدۍ جوړوې

په ځان باران دسرو ګلونو غواړې
خــوار افغـانانو ته ږلۍ جوړوې

شیرزی دې غواړي کډې بارپر اوږو
نا تــرسه ولــې دښمنۍ جوړوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د ځوانۍ زوربه دې کم شي یوه ورځ
درته جوړ به امبار غم شي یوه ورځ

د غروردنګه مانۍ به دې راپرېوزي
**خپل عمل** به درته ګرم شي یوه ورځ

لږلباس دخاکسارۍ درله په تن کړه
دخدای قهر به درسم شي یوه ورځ

لږ په خوارو عاجزانو کرم بویه
داغریب به دې مرهم شي یوه ورځ

اې ناترسه د یتیم غوښو ته ناسته
درته نس کې به اړم شي یوه ورځ

راته ډېره کرېلیچنه لاړ پرته ده
اې **شېرزیه** سوال به هم شي یوه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیوستون

هېواده نور خو دې زرغون غواړو
وګړو ستاسو هم پاڅون غواړو

ښکلی وطن مو شولو لوټې لوټې
هریو دښمن دې خوارزبون غواړو

په سردرودې سره اورونه بل شول
نور دې بچیانو کې سمون غواړو

دسر پګړی سړی مو پاتې نه شو
نوره په سوله کې ژوندون غواړو

شوې یې تیرې تورې سینوکې پڅې
نور په خندا خندا پښتون غواړو

**شېرزیه** یو یو به مو وژني په دار
د لوی څښتن نه پیوستون غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ته مې یې زړګی زه دې یم ځان اشنا
ولــې رانــه نــه کــوې پرسان اشنا

زړه خو دوجود په سر پاچا وي نــو
تــه رانــه جــدا کوې ګــذران اشنا

دغه مړاوې مړاوې غوټۍ تاندې کړه
شه ځپــې ځپــې ښکلی باران اشنا

یه ګلابه تل به دې ښــکلا نه وي
مــه چــیره خواروکي بوراګان اشنا

وخپـــړه د لمر په شان شغلـې وکړه
خلکو ته سکــون شه له اسمان اشنا

هــرڅه یې د ستا په نوم بایللــي وو
ولې په شیرزي شوې بدګمان اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ګرانه راتلونکي زنده ګي جوړه کا
تور قبرستان ته رڼايي جوړه کا

دنيا دوکه ده چې دوکه دې نکړي
سوال و ځواب ته تياري جوړه کا

پدې خلاصيږې نه چې نه پوهيدم
په ژوندون لاره د خلاصي جوړه کا

نه به رشوت نه واسطه چليږي
پخپل عمل ځانته خوښي جوړه کا

منزل دی لرې لارې سختې سختې
ربه شيرزي ته اساني جوړه کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درد

درده بـــس راځـــه د يوه لوري يو
زړونــه مـودي يوشانې معزوري يو

بې لـه تا پرهـــــر زمـــا جـوړېږي نه
ګرانه چې دعشق په اسمان ستوري يو

راوړه د پرهـــر تر خوا جونګـړه دې
مــــــوږه د يو بل د مينــې توري يو

زړه ته مې راغلــــى يې دچا په سر
لـمر دې توروي ګرانه د سيوري يو

کوريې دشېرزي دزړه په سرباندې
اوس خو به يې ساتو چې کمزوري يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لپه

درمې کړلو زړه په سپينه لپه کې
روڼ لــکه اوبــه په سپينه لپه کې

هــرڅه مې د ستا په ســرمنلي دي
ژوندی يوه خوله په سپينه لپه کې

هېره به مې نشي د زړګــي پاچــا
هغـه خاطـــــره په سپينه لپه کې

مه چيچه غاښونه ځوانيمرګه شې
دارمـــې وګاټــه په سپينه لپه کې

هوش راځينې واخله په خيالونوکې
مــــۍ يوه پياله په سپينه لپه کې

اوښـــــکې تويوه **شېرزيه** دومره نه
خـــانده څه ناڅه په سپينه لپه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستړی منزل

جنګ بلاستړی مزل دی نه رسیږي ترمنزله
پښتنوڅانونه ډوب کړل سمندرباندې پخپله

که داورونه دوحدت په تغرناست وای متحدوای
نن به نه وو فـریادونه له اټکـــه تر کابلـــه

دوطن دا هریو کاڼی مو له سرو غمیوښکلی
کـه مو دا رنګینه خاوره له غلیمـــه وساتله

چې مووړکړله دسولې مینه جنګ ته ځوانیمرګ ته
د ژونـــدون دکلـــي لاره موږه خپله کړه بدلـه

ځواني هیلـــې امیدونه مو یویو پسې ډوبیږي
ددوستۍ لاس مو ورنکړو تر دې دمه یو تربله

هـا چې موږ روانه کړي بس یوه یوه تختـه ده
اې شېرزیه دامیدکشتي دریاب کې ودریدله

ځوانه ګډه ویلي دي ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ډیردې کړم مجبورکلی درپاتې شو
بل دې کـــړلو اور کلی درپاتې شو

مــا در سره پټــه میـــنه کـړې وه
تا کړو اواز خـور کلی درپاتې شو

غـرونه غـرونه مینه مې ټوټه ټوټه
جوړ دې کړلوشور کلی درپاتې شو

نشـــې ګــرانه دلتـه ګـذاره ګرانه
ژوند شولو پیغـور کلی درپاتې شو

ووژنه **شیـرزی** خوپه انصـاف سره
مـه لګـــوه تــور کلی درپاتې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترنم

ګل د ګلابونو يې خيال کې دې ساتم اشنا
پټ په تورو غرونو يې اوښکې تويوم اشنا

ســـور په وينو ګرځمه زړه زما پرهر پرهر
تا له خدايه غواړمه ژونـد زما خطر خطر
راز د پــټو زړونــو يــې تل دې يادوم اشنا
پټ په توروغرونو يې اوښکې تويوم اشنا

بـند په بند تړلــی يم تاو رانه ځنځيردغم
تـا په زړه ويشتلی يم تل کومه وير صنـم
مينـــــه د وختونو يې وينـه دې ګنم اشنا
پټ په توروغرونو يې اوښکې تويوم اشنا

تــــا ګناه ګناه ويــل ما ثواب ثواب اشنا
تا ټوپك ټوپك کول مـا کتاب کتاب اشنا
مــور د تورتمونو ده دابه غــورځوم اشنا
پټ په توروغرونو يې اوښکې تويوم اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مي يې ملهم دزړه ته مې زنده ګي ګله
ګوره تل خوارېږه خوارېږه ته مې پاچاهي ګله
ژوند د ارمانونو مې داشېرزی ګڼم اشنا
پټ په توروغرونو يې اوښکې تويوم اشنا

زړګـــی زمـا لـکـه غـنم چـاودلی
دښـمـن مې نه دی خو صنم چاودلی
کنډر کنډر دی لوټې لوټې پروت دی
لـکـه په لـــويه لاره بـم چـاودلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ګلــونه مابښامونه مې نظرته وړاندې راشي
دمينې تېروختونه مې نظرته وړاندې راشي

دمينې د مشــال دې پـوروړی یم ګلـفـــامه
دحســن دريابــونه مې نظرته وړاندې راشي

خبرې يې دکانې کرښــې زړه کې راسره دي
هاتللي شخصيتونه مې نظرته وړاندې راشي

فضاشوه دوړي دوړي توپانونه راخواره دي
دستـورو اميدونه مې نظرته وړاندې راشي

شــېرزيه ګنهــګاره مـحـبت دې ولــې کړی
دخلکو پيغورونه مې نظرته وړاندې راشي

ورځه ورو ورو پر ورو ملګري

# غزل

د ګناه کلي کې ميشت يو دثواب له کلي لرې
ذهــنونه مــو تيـــاره دي  دکتاب له کلي لرې

بې له ستونزونه صنمه په شپو شپو کوومزلونه
خو سهــار په کاڼــو ولــو د مهتاب له کلي لرې

مازديګرشي ستاپه کلي لمرشغلې شغلې ډوبيږي
مــابنــامــونه راروان شي د آفتاب له کلي لرې

دردونه مې دزړه په کــور له هر لوري رادرومي
نومجبوريمه چې بندکړم دزړه باب له کلي لرې

څودستوروځلاګانې مې سپوږمۍ ته په سينه کې
بس **شېرزی** ورته حيران شي دځواب له کلي لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ربــه راولـــــې د میـنـــــې بــــارانـــونه
چې تازه شي پــــــرې دزړونو جوسونه

چې ویــده زړونه راویښ کړي له خوبونو
تــرنــم کـــړي په پـرې شونډو غـــزلونه

دغه راز د دنیـــاګۍ راته معـــلوم دی
دغـــه ژونـد کلـه ازغـــي کله ګلـــونه

پاکه مینــه مې د زړه په کـــور دیره ده
راتــه یـاد دي تېر وخـــتونه تېر یادونه

زخمي زړه به مې لمن کې درته پرېوزي
که دي هیرې کړې وعدې اوتېر لوظونه

د شېرزي دکفـن غوټې شولې خلاصې
درتـــه پاتــې شــول پریمـــانه ارمـــانونه

# غزل

د اسمان له کلي ستوري چه رالويږي
ليـــوني اجـل وهلـي تـرې ويــريږي

مناسب ده چې مـقام ته يې قـايل شو
دارختـلــي خلك چېرته چې اوسيږي

ژوند مو واړه په رڼــا پسـې تـړلـی
بې له شمعې پتنګ کله پاتې ګـيږي

چې سپوږمۍ غوندې سړی پکې ظاهرشي
نـو د سـتــورو رڼا هـلـــه معلوميږي

چې د زړه پاچايــې خپلـه وي تـاکلی
بيا په کمــو کيسو هسې خپه کيږي

چېګريوان يې شي تارتار دايې تحفه ده
اې شېرزيه که په مينه څوك پوهيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

عــيـادت په عبــادت کې حسابيږي
بس دروغ  منـافـقـت کې حسابيږي

د احسان  تلــه درنه لره په ژوند کې
دا هــرومــرو قيــامت کې حسابيږي

چې يې ځانته خوښوې نوروته هم کا
د مـومنـو په خـصلت کې حسابيږي

چې دچاله ويرې توی شي قيمتي شي
رښې اوښکــې محبت کې حسابيږي

ګــرانې لارې راته مخې ته شېــرزيه
ديار وصــل په جـنت  کې حسابيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ژوندون مې دی نیمګــړی بې له تاخوږه جانانه
قــربان دې شم صنمه مهــربانه یاقربانه

ملنګ ملنګ خیالونه مې دتخت خوبونه ویني
عجــیبه زمـانه شوله په ځان یم بد ګمانه

دسترګو دید مې بند په ځنځـیرونو دالفت شو
زړګـیه لیونیه چې ورك نه شـــې له ځانه

سیلـۍ د محبـت ترینـه چـاپیره هـوا ګرمه
ګلونه مړاوي شوي دي چمن دی بې بارانه

د هیلـــو کاروانونه مـــو جانانه قـــتل شوي
څه ګونګه زندګي شوله شپرزیه بې زبانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سبا

ورکې به تیارې شي روڼ سبا به شي
بیا به پســـرلی شي ښه فضا به شي

ډیر مــو د پرهــر پر کــټ ویرونه دي
نن که ســوله راشــي نو رڼا به شي

دا خلـك كه ګــټه تاوان وشـــمېري
بیــابه نفاق لــرې کړي پخلا به شي

نور به د ټــوپك پرځای قلم واخلـــو
بوټــي د هېـــواد راتــه شفا به شي

تل به هـــــر کلی سولــې ته وو ایو
یـه **شېرزیه** ژوندبه شي ښکلا به شي

ډېره روه روه په روه روه مټکرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباب

د لوپټـې د پيڅـې شـــرنګ يې نشته
ربـاب يې شور نه کړي ملنګ يې نشته

د ساقـــــي جــان هــره خـــبره منم
خـــو دابه نه وايي چې بنـــګ يې نشته

د تـــورو بريــښ يې تـر اسمــانه رسي
پښتون چې شته دی نو بيا ننګ يې نشته!

د حـــسن پـــيره نن خـــيرات ټولوي
ها مخکينی شانې غورځنګ يې نشته

ددې جيـــنۍ په تنـــدي سپينه روپۍ
څه پکــې مه وايه چې رنـــګ يې نشته

اوس د ګــوګل په ريســـرچ يـار لټـوم
مودې مودې کيږي چې زنګ يې نشته

په لار پــــرتـې وې د منـــګيو ټـوټې
شيـــرزيه ته وايې چې جنګ يې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ځانته مې ګمان د لېوني وشي
کله مې په ځان بد ګماني وشي

کلى مو له ښاره بلا لرې دى
يو نيم پکې کار د بازاري وشي

وشيندو تخمونه د ګلونو پرې
شنه شي په چمن کې موازغي وشي

توره يې له تيکې نه راوويستـه
اوس به تربنه خامخا بدي وشي

ټوله چې راټول شي سره وروڼه شي
هله به شېرزيه نو خوښي وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چونګړه

فرش مې ليمه قدم پرې ږده رادرومه
نن مې جـونګــړې ته راځـه رادرومه

پــه ډېـره ميـنــه مې بــلـنــه درکــړه
دغه پــيـغــام مــې ومنــه رادرومه

د غـــريـبـانــو ښـــادي کـله کـله
لـږ يې د زړونو خـيال ساته رادرومه

د واړه عــــمر فيصلــه يې کـيږي
ځــان يې ښـادۍ کې ګډوه رادرومه

ستر ګې مې ستا په لـورنيولي اشنا
ژرکــــوه ژرژرې راځــــه رادرومه

کلــه ښادي کلــه غـمـونه ګــرانه
شــېرزيه زړه روغ ګرځوه رادرومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ستړګې توروه خو دومره ډېرې نه
اوښکې تویوه خو دومره ډېرې نه

لوی مې دزړګي په باغچه کې کړې
لیچې شرنګوه خو دومره ډېرې نه

کړمه به شغلې سپینه سپوږمۍ به شم
وړانګې مې شمېره خودومره ډېرې نه

هغه دژوندون خوږې خوږې شیبې
لږې یادوه خو دومره ډېرې نه

مه کوه شېرزي ته ډیرنازونه هم
شوخې کیسې کړه خو دومره ډېرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګل

ته لکـه د ګل په شانې ښکلې وې
زه لکه لـــویدلی دلته پروت ومه

تا به د الفت خوږې خـــبرې کړې
زه به غـلـی پلـی دلته پروت ومه

شونډې دې ګلاب سره تشبه لري
زه به میرات مړی دلته پروت ومه

غـاړه به دې سروسپینو نه ډکه وه
زه بــه غـم ځپلی دلته پروت ومه

ته به دغرور په ټال کې ناسته وې
زه **شېرزی** به سترړی دلته پروت ومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سجده

ته امــام د محبت زه مقـــــتدي یم
ته مـرشد د انس و جن زه یقیني یم

لوی دریاب دبیلتانه ازغینه کرښه
زما یاره ته عــــرب زه عجمـــي یم

ستاله میني مې دمینې لارموندلي
هسې نه یم چې په هرلوري رهي یم

چې اذان د محبت مې ترغوږو شي
نـــوسجده یمه جنان ته په تندي یم

کلـه کلـه په بهــار پسې قتـــلیږم
تانده هیله دشېرزي دپاك زړګي یم

میرمن روح ته په مسګري

# قلـــم

لاس کې مو ټـوپك قلم ته بد وايو
ځکه خـورو تيندك قلم ته بد وايو

تـــږي يو د خپلــو ورونو وينـــو ته
ځان مو کړلو سپك قلم ته بد وايو

زړوکې مودجهل چينې تاندې دي
جنګ ته ځوچابك قلم ته بد وايو

څوك به مودسترې ژونددمه شي نن
څوك لاس دکومك قلم ته بد وايو

جنګ موله بهره کورته راوســتو
يم شېرزی هك پك قلم ته بدوايو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلونه

ما به چې هــر وختــې کــرل ګلونه
لــه هــرې خــوانه مې ســاتل ګلونه

ما به يې شپه ورځې خدمت کولو
څاڅـکو خــولو مې پـﺎلل ګلونه

دشپې شبنم و خپل څادر خورکړی
سهـارموسکۍ موسکۍ کېدل ګلونه

زمــا د هيلــو دنيــاګــۍ وه دلته
کـــرار کـــرار به لـــوئيدل ګلونه

د ژونــد کــيسه مې پکې ونغاړله
زمـــا غــــــزل کې ياديدل ګلونه

شـو دړې وړې د خوښــيو محــل
**شـــېرزيه** ښه ورژيــدل ګلــونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په دنیا چې شي مال ډیر لکه قارون
خوند به وانخلې له دغسې ژوندون

لالهاند به وې غرور به دې پیشه وي
یوه ځای کې به دې نه کیږي سکون

عجیبه غوندې وختونه په موږ راغلل
اې پښتونه خاوره غواړي پیوستون

لو ګډ شوی دځوانانو په ځوانیو
د هرچا دام کې نښتی دی پښتون

کاروباردې شورخوړلی دی قاصده
د شېرزي تقدیرکې راغللو بیلتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاج محل

تېر وختــونه دې یادېږي اوکنه
د زړګــي سر دې خوږېږي اوکنه

وړکتوب و پاچاهي وه زندګي وه
چرته خیال کې دې ګرځېږي اوکنه

ستامنزل ته هغه تللي سپینه لاره
لاروي ځینــې تــېرېږي اوکنه

په ټالونو زنګیده به دې هېرنه وي
هـغــه مینه دې شرنګېږي اوکنه

بې هدفه بې مــــرامه یارانه کې
دښـــــکلا ډېــوه بلېږي اوکنه

تاج محل غوندې کورګۍزما **شېرزیه**
درته ســترګوکې غـــېږي اوکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستا تصویر

جـوړومه دې تصـــویر په سپینو ګوتو
سپیني غاړې ته ځنځیرپه سپینو ګوتو

په خیـــالـونو کې تر اوجــه رسیـدلی
ودان کـړی مې کشمیر په سپینو ګوتو

څـه په سپینه جـامه خلك رانږدې شي
راته وژنـي مې ضمـیر په سپینو ګوتو

کله سترګو کې د سترګو مینه راکړي
کلـه راکـــړي راته ویر په سپینو ګوتو

د زړګـي ور به رابنــد کــړمه د چـانه
ژړا راکړه خپل تقـدیر په سپینو ګوتو

د شـېرزي په غاړه سره سپین آمیلونه
پـــیر بابا کــوه تعبیر په سپینو ګوتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ګرد اسمان کې ګرځېدم لکه کــوتره
د یو چــا دپـــاره ومــه مـرغلـــره

دښــکلا پر پاچاهۍ مې واکمني وه
د ښـــایست دتاج محل وم پیغمبره

لـونګیـن مې دسینـــې د پاسه یاره
لکه پاس وي په کمره باندې ګورګوره

دښایست دښکلاګانومې سیال نه و
ومـــه پېغلــو کې روانه تر ګودره

نــازوم به دې **شــېرزیه** لاترعــمـره
پکې سرې سترګې ګرځېږه دزړه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګران

ربـه راولـې بـاران په  شـنه اسـمـان
چې میلمه مې شي له ټولې نړۍ ګران
تېروختونه ماشومتوب پکې رایادکړو
چـې پوره شي د مودو مودو ارمـان

د وختـو ګـرمـو سیلیو ځـغـلولي
د جـنـون  تیـرو ازغـیـو ژړولـي
قـضـا  شـوي دیدنونه به ادا  کـړو
مـین زړونه مـو زیـړې تبـې وهلي

دغـه وخت رقـیب به وشـړوله منځه
داجـاهـل طـبیب  به وشړو له منځه
نرى شونډې به غـزل ته حـواله کړو
دا ظالـم صلـیب به وشړو له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چنـار سـيوره مو دمــه دزړګــي ده
دارمــان خــونه مو ســمه په زړګـي ده
نــور به لــرې کـړو له زړونو نفــرتونه
مـحبـت نـرمــه خـــبره د زړګـــي ده

ژونـــد به پـيل کـــړو په نوي نوي بڼه
د زړګـــي ګـــلان په مينـه مينــه پڼه
لـــږ به يو بل ته اشـــنا ترغـــاړي وزو
د الفـــــت مجلــه جـــوړه نوي ګڼـه

په کـرار کـرار به کـړو پستــې خبرې
د تېـر شـوي يــادګارو وړې خـــبرې
کــړو به راويــــښ دا خـــوبولي زړونه
زمــا شــېرزيه دالفت خـــوږې خـــبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانیمرګه

ټول دې وخـــوړم په زغــرده ځوانیمرګه
خاص په ما میلمه یې درده ځوانیمرګه

چې په ټـولوکې په ماباندې مـــین شوې
کاشکې زه خو وی ځوانمرده ځوانیمرګه

که مې سـرد نازولـــونه قـــربان کړم
دا لــــه ډیـرو نه بهــــترده ځوانیمرګه

دغــه ژونــد دحســرتــونو امیـــدونو
ډکـــه ځالــــــه د بشـــرده ځوانیمرګه

بـیړۍ درومـي ترمنزل پورې شـېرزیه
ډکـــــه لاره د خــطـــرده ځوانیمرګه

ځېره روه په روه ملګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هېواد

په هـــېواد کې ورور وژنه به ترڅو وي
دا دخـــپل کـــورورانونه به ترڅو وي

افـغانان يو د ورور وينه مـــو پکار ده
دايــو بل ته ګـــوت نيونه به ترڅو وي

مــورږ د ســولې مـرغان وشړل له کلي
داد جنګ ســپېره لمــنه به ترڅو وي

دلتـه مړهلتـه زخمـي هلتـه يـتيم وي
داســې عـــمر تــېريدنه به ترڅو وي

دشېرزي سلګۍ سلګۍ سخته ژوندونه
دا د زړونـــو مـــاتــېدنه به ترڅو وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښکه

په داسرو سروانګو مې اوښکې راغلې
يوه مخ ته په کتو مې اوښکې راغلې

ټول غمونه مې د کور په وره ولاړ وي
ددې ژوند په تېريدو مې اوښکې راغلې

د ګلاب په څېر ښکلا يې له مخ تللې
د ځوانۍ په رژيدو مې اوښکې راغلې

سپينه اوښکه وم د چا له سترګو لاړم
دارمان په قتليدو مې اوښکې راغلې

عجيبه ده ترې هېنداري نه شرميږي
خپل**شېرزي** ته په ليدو مې اوښکې راغلې

ژړا ده ژوند په ژړا ژوند ژړا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ته مې ژوند وې آینده وې ستاپه تمه
عجیبه وې عجیبه وې ستاپه تمه

ستاخوښې نه مې دزړه وینې قربان وې
ته پخه د باغ میوه وې ستاپه تمه

دزړه للمې ګلان ټوله مړاوې شوي
ته باران څپه څپه وې ستاپه تمه

په ګریوان دې مرورې اوښکې درومي
مازدیګره چې خپه وې ستا په تمه

څه ښه وایي چې ښه مکوه بد نشته
خو له ورخ تېرې اوبه وې ستاپه تمه

د شاعرد شاعرى شعور دې مات کړ
د **شېرزي** دژوندچینه وې ستا په تمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسولې کاروان

که چیرته ټول شوسره ورونه څومره خوندبه کوي
دا تیت پــرك خواره قومونه څومره خوندبه کوي

نه به بدي وي نه به جنګ نه به خپګان تر منځه
چې سره یوشـي ټول لاسونه څومره خوندبه کوي

ګـوتې به جوړې شي قلم ته او په کاربه راشــي
روان د سـولـې کاروانونه څومره خوند به کوي

چې مـــو واړه الفبا وایي ښوونځـي ته درومي
داد مـعارف تنکـي ګلونه څومره خوند به کوي

لکـه اوبو وړی انســـان هـرشي ته لاس اچــوي
داسې که ویښ شي ضمیرونه څومره خوندبه کوي

دغره شپونکی دتخت پاچا که ځانته یو ووایي
**شېرزیه** نه به وي جنګونه څومره خوند به کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څه مې ګناه کړېده څه مې جفا کړېده
ولې مې وژنې یاره څه مې خطا کړېده

زه خوپښتون یمه پښتوپالمه ننګ لرمه
ما خو زړګی ساتلی ما خو وفا کړېده

سر مې قربان دپښتنې عنعنوي کلتوره
اې نازولې خاورې دا مې سودا کړېده

دتن په وینو به روزم دخپل هیوادګلونه
داسې مې ژمنه دمالیارسره رښتیاکړېده

**شېرزی** به ووژني خو هغه مینه مینه نه مري
نن مې په زغرده خپل زړګي راته ویناکړېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رمضان

ربه قبــول کــړې رمــضــان له مــوږه
ستــا رالــيږلی دا فــرمــان له مـوږه

مونږه عاجز يو مونږ ګــناوې کړې
اوس به توئيږي تېرعصيان له موږه

هــا چې د زرو ميــاشتــو اجــر لري
د قــدر شپه مکــړې پنهان له مـوږه

رب ته بهتردی دخولې بوی له مشکو
خپه يې مکړې په هيڅ شان له موږه

شــــېرزی لــرم د رحمتــونو امــيد
نــاراضه مکړې عالیشــان له مــوږه

پښتو په پښتو مشکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نښتر

وخت مې په سر لکه د لمر ولاړ وي
ستا نېـغ بانړه مې په ځيګر ولاړ وي

داچــې په نه  خـــبره وران شو سره
رقيــب پـدې شر کې اکثر ولاړ وي

کلــی مـزه کـړي چنـارونو باندې
دغـره ښکلا ده چې نښتر ولاړ وي

د  محبت نـــړۍ ښــــکلا وفا ده
زړه چــې مــين وي په کمر ولاړ وي

زه خو شپــونکی يمه غمونه پيايم
نـظـر مې  دلتـه کلـــه بر ولاړ وي

ميـــنه په اوښکــو چا پاللي نه ده
شېـــرزيه ويـنه کــې اثر ولاړ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زمـــا د ژونــد د خاطـــرو هـــېواده
کله به خلاص شې له پردو هـــېواده

دوخت فرعون سره جـــداکړل زړونه
اې د ویـــاړلـــو پـــښتـــنو هـــېواده

خوب مې لیدلی که رښتیاشي چرته
سوله به راشي ورو په ورو هـــېواده

د لمرد وړانګو په شان وړانګې لري
قـــدر په کار ستا د زلمو هـــېواده

تاندې چینې جګ چنارونه منګـــې
اې د شــــېرزي د امیدو هـــېواده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وفا

زما د واړه خاطرو دنیاګې
تاته پرته ده په سجدو دنیاګې

داچې د دار د پاسه مینه غواړي
دغه وفا د پښتنو دنیاګې

د خوشالیوکډې مخکې تللي
دژوند ساحه مو ترپنجرو دنیاګې

د محبت زړونه یو ځودي پکې
کلې مو ډك له نفرتو دنیاګې

زړه مې ماشوم غوندې سلګونیولی
کاروان داوښکوترې راتلو دنیاکې

د زړه په سرمې دغمونوخیمه
د شېرزي عمر په سلګو دنیاګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باڼه

د چـــا وړې وړې خـــبرې ماته خوب راولي
لکـه دجګوغـرو سندرې ماته خوب راولي

دشوګیروغیږه کې شپه تیره کړم ویښه ویښه
سهـار نـارې وهـي بلبلې ماته خوب راولي

دنګې ځوانۍ لشـې لشـې باڼودې وخوړلم
ستـا قــدمونه د تــنزرې ماته خوب راولي

د پښتنو دا رواجــونه ناهــیلي دژوندون
دپیغورو تېرې خنجــرې ماته خوب راولي

حســـن یې ډیر دګلابونونه شــېرزیه ګـله
هغه منګـي هغه ګودرې ماته خوب راولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرين تال

ځاځكي ځاځكي دباران را وريدل
خوږمن زړه مې د چا لارې ته كتل

د خيالونو په زرين تال كې مې شپه
ستا يادونه مې په زړه كې لوبيدل

په ګريوان اوښكې مې سم دم سمندر
ارمانونه د زړګي مې ډوبيدل

دسپين غرسرې څپې ورباندې راغلې
ګلابي نازك زړګوټي سوځيدل

څه په لپو لپو بنګ شيرزي وهلي
هم نشه دي هم خمار دده غزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پسرلی

تـرې لـرو ډیرامـیدونه  پســـرلی شو
نـوي  نـوي هــوسونه  پســـرلی شو

نوی کال شو د چنــار غېږه شوه ډکه
د مـــرغــانـو اوازونه  پســـرلی  شو

نوی کال شوغرونوشین څادرخورکړی
ځمکې وکړل سینګارونه  پسرلی شو

نن ښـوونځیـو ته روان په ډلــو ډلــو
د  معـارف تنکـي ګلونه  پســرلی شو

د  خـــزان سپیره لمن په ټولیدو شوه
زانـو جـوړ کړل کتارونه  پسـرلی شو

خامخا به قــــافله مـنزل ته رسي
د شپـرزي دي ارمـانونه  پسرلی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خېبر

یو مې خوارزړګی بل مې ځېګراوسي
یو خــواته کابــل بل پېښــور اوسي

نه ورکــوي لاس د وحــدت نه کــنه
ځــکـه یو په لــراو بل په بــر اوسي

ټوله دنیــاګــۍ ورته حـــــیرانه ده
ډیــر په غــدارۍ کې په هــنر اوسي

زړه او خــولــه یې زیاته فاصله لري
خــوله باندې خنداپه زړه خنجراوسي

نکــړي پښــتني رواج اوس نه کوي
هغــه پښــتانه چې په خــیبر اوسي

چاچې تل په موږ زهــــر خوړلي دي
یه شـــېرزیــه ها مو دزړه سر اوسي

ږیره ږوه په ږوه ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سلام

یاري کوو د چا احسان نه منو
کله د بل کله د ځان نه منو

که څوك سلام کوي سلام يې اخلو
که سلام نه کوي جانان نه منو

که چاته یو ځلې ترغاړې وتو
غداران نه یو غداران نه منو

زړه مې دهغو چې وفا پېژني
له نفرتونو جوړ خوبان نه منو

د زړه او ژبې ترمنځ کمه لاره
شېرزیه یوچې نشي جان نه منو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نغمه

لاوړه یې ګلدستــه یې زمـــا زړه یې
ښایسته یې عجیـبه یې ښایسته یـې

که محنت یې خوصحبت یې محبت یې
ته نغـمه یې ته ګیلـه یې ته کیسـه یې

تــه دنیـا یې ته وفا یې ته ښـکلا یې
مـلـکــه یې خـــزانه یې آیینــه یې

ژونــدون واړه غــاړه موږه دواړه
که خــوږه یې که ترخـه یې خاطره یې

ملنـــګـي ده پاچــاهي ده زندګي ده
چې درنــه یې په پــرده یې پښـتنه یې

ستاشیرزی دی ستالالی دی ستازړګی دی
داپه څـه یې چې خپه یې په غوسه یې

ګرانه ستا په ګرانه ستا ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نرګس

لاس ته مې بنګړي واخله پښوته زولنې ګله
تاسره مې مينه ده دابه مې منې ګله

زړه کې مې يواځې ته بل چاته ځاى نه لري
ته مې د دردو ملهم کله به راځې ګله

ته چې نه وې هغه ورځ هيچرې دې رانشي
اوښکې په ګريوان زما ځي ځپې ځپې ګله

کونج په کونج نړۍ کې دې نه وينم ښکلا اشنا
وي لکه د لمرشغلې هره خوا خورې ګله

زړه به ورته نه وايم توره غوندې تيره ده
نه چې مينه وکړې نه مينه ريبې ګله

ستاخوږې کيسې پکې شنه نرګس ګلونه دي
دا زما زړګى **شيرزى** واړه خاطرې ګله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

تا چـــې راوړل سره ګلـــونه په اختر کې
مـــا هم لـرې کـــړل غمـونه په اختر کې

خـوشالی شوې رنګینـی شولې هرخواته
چې مو ورکړل سره لاســـــونه په اخترکې

خوښ دلــبرشو بختـورشو چـــې اخترشو
سره یـــو شول جــــدا زړونــه په اختر کې

ته په چاودو چاودو شونډو چې موسکۍ شوې
پــېغلــو وکـــړل اتڼـــــونه په اختر کې

محبت یې په نفــــرت باندې غـــالب و
شـــېرزي وکـــړل اخــترونه په اختر کې

# شفق

یوه هیله یوامید دی یو ارمان دی
په دنیا کې نوره څه دي بس جنان دی

لمرخپه شي په شفق کې رانه پریوزي
بیاهم راشي په سهار کې مهربان دی

سر په مینه شي پیدا په مینه درومي
مجنون کړی د لیلا سره پیمان دی

اوبه ځاځي د چینې نه لکه اوښکې
طبیعت دی ښکلاګانې دي یزدان دی

لکه ستوري دسپوږمۍ په تملق کې
یوګلاب دی دشپېرزي دزړه درمان دی

# ملنګي

لالـهانـده زندګـي راپسـې تښتي
خپل خيـالونه ليوني راپـسې تښتي

نه پوهيږمه چې داځنګه انځـوردی
چې دستورو رڼايـي راپسې تښتي

دځوانۍ دعمرپښې يې لنډې مشه
د يارانـــو وفـــايي راپسې تښتي

که پـاچـا يــم دولـتونه راسره دي
طبيعت کې ملنګي راپسې تښتي

نه پوهيږمه دکـوم پـير په دعـا ده
نن شـېرزيه پسرلي راپسې تښتي



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړانګه

زمـــا زړه دی لـــرې تللی لکه وړانګه
هلته پروت دی غلی پلی لکه وړانګه

محبت ده تـــرینه غــــېږه راچاپـــیره
د چـــا دام کـــې پریوتلی لکه وړانګه

هغه نـــوم چې له هرچانه ورته خوږدی
پخپـل سر یې دی لیکلی لکه وړانګه

دهېنداري په څېرمخ پکې لیدای شي
یوجـــهان دی یو ښـــاغلی لکه وړانګه

هغه وړانګـــه چې له لرې دلـته راشي
د شـــېرزي ژوند ځلیدلی لکه وړانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

زړه مې ډك دى له غمونه يو ځل راشه
لـه غمګـــينو انديښنونه يو ځل راشه

لـږ يې وتخـــــنوه ياره چې رضا شي
ستـــا د ډيرو يادـيـــدونه يو ځل راشه

ته خو لاړلې د بل دلاس غمـــــې شوې
خوب مې ورك له اسويلونه يوځل راشه

په راتـګ به دې بسترنه شـــي راپورته
كـړې ملـهـم به پرهـــرونه يو ځل راشه

ستا يادونه خو له تانه وفـــــادار دي
تل زمـــا د زړه په خونه يو ځل راشه

داشيرزى شيرزى جنان به دې تل نه وي
بيا به وكـــړې ارمـــانونه يو ځل راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډیوه

ژوند مې د سترې انتظار په لمن
د کلي خلك ددې لار په لمن

موسکې موسکې شي غلي غلي وايي
دا واړه ستوري د مدار په لمن

په مخ يې سپينې سپينې ترمې اوښکې
راتلې راتلې کتار کتار په لمن

حسني ډيوه يې وه غمو مړه کړې
څه يې د کلي څه د ښار په لمن

شېرزيه دا موسم د مينې موسم
مرغان راغلي د چنار په لمن

# ډالـــۍ

زما د ښنګ خــوږو ملګــرو درته څه ډالۍ کړم
داخپل زړګی درته ډالۍ کړم که لېمه ډالۍ کړم

دا د بهـار خــوږې شیبې دغه تازه مــوسمګۍ
د هغه تېرو خــوږو شپو خو به خواږه ډالۍ کړم

که زخمي زړونه پرې پیوندشي پیوندونه واخلي
که په ما کــیږي نو دوستانوته به زړه ډالۍ کړم

دژوند کتاب کې مې خوښیوخاطرې زیاتې شوې
نــوره څه نه لــرم بس ښکلــوته کاته ډالۍ کړم

دا کلیــوالې پښتنــې پېغــلې بې پته مکــړې
د ښاري پېغــلو د حیـــا نه به توبه ډالۍ کړم

زمــا د مینــې د اظـهار تــوري قـلـــم یادوي
شېرزیه ژوندبه مې یوچاته لکه سره ډالۍ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناویټوپ

د زرو لښتـــه سپین او سره وشیندي
په لاره درومـــي بـــس کاته وشیندي

د پېغلتـــوب لـه نـــاز خبـــره نه ده
کـنه په ســـــره اور به اوبه وشیندي

ســـتا ناویتـــــوب زما د تـن جنازه
په تا ګـــلان په مـــا وابنـــه وشیندي

ناز به دې ورم خو دومـره نه دلـداره
چـــې رانه دا ورُوکـــی زړه وشیندي

د ملنګانو برخـــې خـواري ســـپېرې
شېرزی له دې ځولۍ نه څه وشیندي

هغه په دومره ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

چــاپېر د سروګلــو باران و  تاته څه پته وه
د کلــي برسـر کـې جنان و  تاته څه پته وه

د تن پاچا دې وه په سر دښکلاګانو ټــوپی
لکــه د واړه کلــي خــان و  تاته څه پته وه

دښارکوڅې هم دخوښیوپرځای غم واخیستې
هلته خوهـرسړی په ځان و  تاته څه پتــه وه

ښار ته راغلی نابــلد و کلیوال و ســـــړی
ښارته راتلو باندې پښېمان و تاته څه پته وه

په  ژبـه خـــوږ و تــرنـم و د هـــنر پاچـا و
شېـــرزیه هغـه مې ارمان و  تاته څه پته وه

هره ورځ په ورځ ماګلری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فریاد

د زړه کور کې مې نرۍ نرۍ فـــریاد دی
رانه هـــېر نه دی همغـه راتـه یاد دی

که هــر څومره په زړه غته تـیـره کېږدم
وایي ګل خـــو په اوبو باندې اباد دی

تـــور بانه دې سپېلنیو نه بنـــه کار کا
دنګ وجود مې ستاپه سترګوباندې ښاد دی

دجــنان کلـــي ته غلـی غلی دروم
زړه مې وایي چې همدغه عشق اباد دی

دا د ډارکیسه کې نه دی دا شـېرزی دی
په ژوندون کې یې تنها یوشخص مراد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر

شاعـرۍ نه دي قربان شمه شېرزيه

چې راخوږ شي نود ځان شمه شېرزيه

دهــــېواد دغـو ناسورو پرهـرو ته

لـــږ ملهم شم لږ درمان شمه شېرزيه

دنازونـو اخـــتريز بازار يې ګـرم

هسې نه پکـــــې تاوان شمه شېرزيه

ښاپيرۍ يې چې په غيرږه کې روزلي

زه د هغو ســـــرديـوان شمه شېرزيه

ددې ښکلو تکو سپينو نازولـــــو

نوو هيلو ترجــــــمان شمه شېرزيه

دغه خپله زنده ګي به سرچپه کړم

يابه ګران شم يا به وران شمه شېرزيه

پوره دوه په دوه ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شاعر پېژندنه

زما جانان دې تاسو وپېژنئ! ښاغلی محمدالله شېرزی درته یادوم! شېرزی صیب د ډګروال شېرمحمد زوی دی چې په ۱۳۶۹ه ل کال یې د صبریو ولسوالۍ په خالبېسات کې، دې ارمانجنې نړۍ ته سترګې وغړولې. په ۱۳۷۸ل کال په یعقوبیوعالي لېسه کې شامل شو.او په ۱۳۸۸ل کال کې له یادې لېسې څخه په اعلی درجه فارغ شو. له فراغت سره سم یې په کانکورازموینه کې برخه واخېسته اوپه ۱۳۸۹ل دخوست شیخ زاید پوهنتون د ژورنالېزم پوهنځي ته بریالی شو،اوپه لوستلو سره یې په ۱۳۹۲ل کال کې له یاد پوهنتون څخه په کدر کې د فراغت سند ترلاسه کړ.شېرزی صیب زیارکښ ځوان دی، د خپلو لوړو زده کړو ترڅنګ نړېدې درې کاله کیږي،چې په بیلا بیلو خصوصي ښوونځیو کې د استادی دنده ترسره کوي، او همدا راز څلور کاله کیږي،چې په رسنیز ډګرکې په فعالیت بوخت دی،او اوسمهال د ولس غږ راډیو یوتکړه ژورنالېست دی. نوموړی له تېرو شپږو کلونو راهیسې له ادب سره هم انډیوالي کوي،او د غزلیزې ښاپیرۍ سره یې د مینې او ملګرتیا تار غځولی، او په غزلونو کې د خپلو خیالاتو اظهار کوي. مینه، حوصله، همدردي، قناعت او درک یې هغه لعلونه دي، چې شېرزی صیب یې تل د خپل شخصیت ښکلا ته کاروي.

عمر یې زرین او ګوتې یې خوځنده

ضیاالرحمن تنها

دولس غږ راډیو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**